# د حضرت دانیال نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## پېژندګلو

د دانیال کِتاب بنیادی موضوع د خُدائ پاک د قدرت ده. هر قسمه حالات د هغهٔ په قابو کښې دی. د دې نه علاوه مونږ په دې کِتاب کښې دا مطالعه کوُو چې خُدائ پاک خپلو منونکو سره وفادار دے. باوجود د آزمېښت او دباؤ، ایماندارانو له پکار دی چې په خپلو دُنیاوی کارونو کښې هم د خُدائ پاک سره وفادار پاتې شی. مونږ له هیڅکله په خپلې مجبورئ کښې د خُدائ پاک شریعت او قانون ماتول نهٔ دی پکار. لکه د دانیال په شان مونږ له هم په هر قسمه مشکله وخت او حالاتو کښې په خُدائ پاک بهروسه پکار ده او هغه به مونږ له د عزت او د درناوی مقام راکړی. حضرت دانیال نبی مونږ ته د قېد په دوو مختلفو واقعو کښې یوه نمونه ښائی چې خُدائ پاک څنګه خپلې وعدې رښتینې ثابتې کړې. حضرت دانیال بابل ته په جلاوطنئ کښې د نورو ځوانانو سره غوره کړے شو چې د نبوکدنضر بادشاه په دربار کښې خِدمتګار شی. بیا چې کله فارس بابل فتح کړو نو یو ځل بیا حضرت دانیال له یو اوچت مقام ورکړے شو. او هغه د جلاوطنئ په دور کښې په دې دواړو حالاتو کښې خُدائ پاک سره وفادار پاتې شو. خُدائ پاک دانیال نبی د ازمرو نه بچ کړو او د اور په بټئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې يې بچ وساتلو ځکه چې هغه تر آخره د خُدائ پاک سره
وفادار پاتې شو او د بل کوم څيز عبادت يې ونۀ کړو. او په
دې کِتاب کښې يو بل مقصد هم شته او هغه دا چې، د
حضرت دانيال نبی دا پېغام په راروان وخت کښې د
حضرت عيسیٰ مسيح د عدالت او خلاصون په حقله يوه
رويا هم وی. د حضرت دانيال نبی پېشگويانې په اِنجيل
شريف کښې هم راغلې دی او خاص کر مونږ يې د يوحنا د
رويا په کِتاب کښې مطالعه کولے شُو. د حفظ کولو دپاره
۲:۱۲ آيت ”نو بيا به هغه ګڼ خلق ځوک چې په خاورو کښې
پراتۀ دی راپاځيږی، ځوک به د ابدی ژوند دپاره، او ځوک د
رسوائی او ابدی شرم دپاره.“

## حضرت دانيال د نبوکدنضر په دربار کښې

١ (١) د يهوداه د بادشاه د يهويقيم د حکومت په دريم کال،
د بابل بادشاه نبوکدنضر يروشلم ته راغلو او هغه يې
محاصره کړو. (٢) او مالِک خُدائ يهويقيم د يهوداه بادشاه
سره د خُدائ د کور څۀ خاص څيزونه د هغۀ لاسونو ته
حواله کړل. هغۀ دا د خُدائ د کور سامانونه بابل ته د خپل
معبود کور ته يوړل او دا يې د خپل معبود د کور په خزانه
کښې کېښودل. (٣) نو بيا بادشاه د خپل دربار مشر خصی
آفسر آشپيناز ته حکم وکړو، چې يو څو بنی اِسرائيليان چې د
شاهی خاندان او مخوريزو سړو سره تعلق ساتی راولئ. (۴)
يو څو ځوانان چې هيڅ قسمه جسمانی عيب په کښې نۀ وی،
چې ښکلی، او د هر قسمه زده کړې قابليت په کښې وی، ښۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هوښيار وی، په پوهېدلو کښې تېز، او د شاهی محل د خِدمت
قابل وی راوله. هغه به دې ځوانانو ته د بابل د ژبې او د ادب
لوستلو تربيت ورکړی. ۵ نو بادشاه د خپل دربار د شاهی
دسترخوان نه هغوئ ته د خوراک خوړلو او د ميو څښلو
حکم ورکړو. دوئ ته به درې کاله تربيت ورکړے شی او د
دې نه وروستو به دوئ د بادشاه د خِدمت دپاره حاضر شی.
۶ په هغوئ کښې ځينې د يهوداه د قبيلې وُو لکه دانيال،
حننياه، ميشائيل او عزرياه. ۷ هغه د خصيانو مشر آفسر
په هغوئ نوی نومونه کېښودل، په دانيال يې بيلطشضر، په
حننياه يې شدرک، په ميشائيل يې ميشک، او په عزرياه يې
عبدنجو نوم کېښودو. ۸ خو دانيال دا فېصله وکړه چې
خپل ځان به په شاهی خوراک او شاهی ميو نۀ پليتوی، او
هغۀ د خصيانو د مشر آفسر نه اجازت وغوښتو چې هغه په
دې طريقې ځان نۀ پليتوی. ۹ نو اوس خُدائ پاک د
خصيانو د مشر آفسر په زړۀ کښې د دانيال دپاره مينه او
رحم واچولو، ۱۰ خو د خصيانو مشر آفسر دانيال ته
ووئيل، ”زۀ د خپل مالِک بادشاه نه يرېږم، چا چې ستاسو
خوراک څښاک مقرر کړے دے. او کۀ هغه تاسو د نورو
همزولو ځوانانو نه کمزوری وګوری نو بيا به څۀ کيږی؟ نو
بادشاه به بيا ستاسو په وجه زما سر پرې کړی.“ ۱۱ دانيال
بيا هغه ملازم ته وفرمائيل کوم چې د خصيانو مشر آفسر په
دانيال، حننياه، ميشائيل او عزرياه مقرر کړے وو، ۱۲
”مهربانی وکړئ تاسو د خپلو نوکرانو د لسو ورځو دپاره
اندازه واخلئ، او مونږ ته د خوراک دپاره سبزیٔ او د څښلو
دپاره د اوبو نه بغير بل څۀ مۀ راکوئ. ۱۳ نو بيا زمونږ
شکلونه د هغه ځوانانو سره وګوره څوک چې شاهی خوراک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښکاک کوی، او بيا د خپلو نوکرانو سره هغه شان وکړه څۀ
چې تۀ ګورې.“ ۱۴ نو هغه بيا دې خبرې ته راضى شو او
لس ورځې يې د هغوئ اندازه واخستله. ۱۵ د لسو ورځو په
آخر کښې هغوئ د نورو ټولو ځوانانو نه صحتمند او ښۀ
ښکاريدل چا چې شاهى خوراک کولو. ۱۶ نو بيا هغه ملازم
د هغوئ نه مقرر شوے خوراک او مے اخوا کړل او د هغې
په ځائ يې سبزى ورکړه. ۱۷ نو دې څلورو واړو ځوانانو ته
خُدائ پاک د هر قسم ادب، عِلم، پوهه او زده کړه ورکړه، او
دانيال هم د هر قسم رويا او خوبونو تعبير کولے شو. ۱۸
کوم وخت چې بادشاه د هغوئ د تربيت دپاره مقرر کړے وو
پوره شو، نو بيا د خصيانو مشر آفسر هغه ټول ځوانان
نبوکدنضر ته پيش کړل. ۱۹ بادشاه د هغوئ سره خبرې
وکړې، او هغۀ يو کس هم په دوئ کښې د دانيال، حننياه،
ميشائيل او عزرياه برابر پيدا نۀ کړو، نو هغوئ د بادشاه په
دربار کښې په خِدمت کولو مقرر شول. ۲۰ بادشاه د عقل
او پوهې په هره مسئله کښې به چې کله د هغوئ نه تپوس
کولو، نو هغۀ هغوئ د خپل سلطنت د ټولو جادوګرو او
نجوميانو نه لس چنده هوښيار بياموندل. ۲۱ او دانيال د
فارس د خورس د بادشاهۍ اول کال پورې هلته په شاهى
دربار کښې خِدمت کولو.

## د نبوکدنضر خوب

۲ ۱ د خپلې بادشاهۍ په دويم کال، نبوکدنضر داسې
خوبونه وليدل چې د هغۀ سوچ يې ګډوډ کړو، او هغۀ ته بيا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوب نهٔ ورتلو. ۲ نو بیا بادشاه جادوګر، فالګر، کوډګر او
نجومیان راوغوښتل چې هغهٔ ته ووائی چې هغهٔ څهٔ خوب
لیدلے دے. هر کله چې هغوئ راغلل او د بادشاه په وړاندې
ودرېدل، ۳ هغهٔ دوئ ته ووئیل، ”ما یو خوب لیدلے دے
کوم چې زهٔ ډېر پرېشانه کړے یم او زهٔ غواړم چې په دې
پوهه شم چې د دې خوب څهٔ مطلب دے.“ ۴ نو بیا
نجومیانو هغهٔ ته په آرامی ژبه کښې ووئیل چې، ”بادشاه
سلامت دې تر ابده ژوندے وی. خپلو خادِمانو ته دې خپل
خوب بیان کړه، نو مونږ به د هغې تعبیر تاسو ته ووایو.“ ۵
خو بادشاه نجومیانو ته ووئیل، ”ما دا پخه فېصله کړې ده،
کهٔ چرې تاسو ما ته دا ونهٔ وایئ چې زما خوب څنګه وو او
تعبیر یې نهٔ کړئ، نو زهٔ به تاسو ټوټه ټوټه کړم او ستاسو
کورونه به د خاورو په ډېرو بدل کړم. ۶ خو کهٔ تاسو ما ته
زما خوب ووایئ او بیا د هغې تعبیر راته ووایئ، نو زهٔ به تاسو
ته تحفې، انعامونه او لوئ عزت درکړم. اوس تاسو ما ته زما
خوب ووایئ او هغه راته تعبیر کړئ.“ ۷ نو یو ځل بیا
هغوئ هغهٔ ته ووئیل، ”بادشاه دې خپلو خادِمانو ته خپل
خوب بیان کړی، او مونږ به یې تعبیر کړُو.“ ۸ نو بیا
بادشاه هغوئ ته په جواب کښې ووئیل، ”زهٔ په دې یقین لرم
چې تاسو د وخت نه فائده اخلئ، ځکه چې تاسو په دې پوهه
شئ چې دا زما پخه فېصله ده. ۹ کهٔ چرې تاسو ما ته زما
خوب ونهٔ وایئ، نو بیا تاسو دپاره صرف یوه سزا ده. تاسو
دا صلاح کړې ده چې ما ګمراه کړئ او راته دروغ ووایئ او
ما دوکه کړئ، او تاسو دا اُمید ساتئ چې زما سوچ به بدل
شی. نو بیا تاسو ما ته زما خوب ووایئ، او بیا زهٔ به په دې
پوهه شم چې تاسو یې ما ته تعبیر هم راکولے شئ.“ ۱۰

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نجومیانو بادشاه ته په جواب کښې ووئیل، "په زمکه داسې
هیڅ څوک نشته چې د بادشاه په دې خبره عمل وکړی. تر
اوسه پورې داسې نۀ دی شوی چې یو بادشاه د خپل فالګر،
جادوګر یا نجومی نه داسې تپوس کړے وی، کۀ هغه بادشاه
هر څومره لوئ او طاقتور وی. ١١ بادشاه سلامت تاسو
چې څۀ غواړئ هغه یو ناممکن کار دے. دا بادشاه ته د هغۀ
د معبودانو نه بغیر هیڅ څوک نۀ شی څرګندولے، او هغوئ د
انسانانو سره نۀ اوسیږی." ١٢ بادشاه چې کله دا واوریدل
نو په دې هغه ډیر زیات په قهر شو او حکم یې وکړو چې د
بابل ټول هوښیاران او پوهان دې قتل کړے شی. ١٣ نو بیا د
هوښیارانو د قتلولو حکم جاری شو، او د دانیال او د هغۀ
ملګرو پسې یې هم کسان ورولیږل چې هغوئ قتل کړی. ١۴
هرکله چې اریوک د بادشاه د محافظانو مشر، د بابل د
هوښیارانو قتلولو پسې ووتو نو دانیال په ډیر هوښیارتیا او
تمیز د هغۀ سره خبرې وکړې. ١۵ هغۀ د بادشاه د آفسر نه
تپوس وکړو چې، "بادشاه دومره سخت فرمان ولې جاری
کړے دے؟" بیا د بادشاه آفسر اریوک دانیال ته ټوله قیصه
بیان کړه. ١۶ نو په دې اوریدو سره دانیال سمدستی بادشاه
له ورغلو او د هغۀ نه یې وخت وغوښتلو، چې دے به ورته د
خوب تعبیر ورکړی. ١٧ نو بیا دانیال خپل کور ته واپس
لاړو او ټوله قیصه یې خپلو ملګرو حننیاه، میشائیل، او
عزریاه ته بیان کړه. ١٨ هغۀ دوئ ته خواست وکړو چې
آسمانی خُدائ پاک ته د دې راز د څرګندولو په حقله د رحم
سوال وکړئ، نو چې دے، د دۀ دوستان او د بابل نور
هوښیاران قتل نۀ شی. ١٩ په هم هغه شپه دا راز په رویا
کښې دانیال ته څرګند شو. نو بیا دانیال د آسمانی خُدائ پاک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ثناء صِفت بیان کړو ۲۰ او هغهٔ وفرمائیل چې، ”د خُدائ
پاک نوم ته دې د تل دپاره ثناء صِفت وی، حکمت او قدرت
د هغهٔ دے. ۲۱ هغه وختونه او حالات بدلوی، هغه بادشاهان
په تخت کښېنوی او هغوئ اخوا کوی. هغه پوهانو له پوهه او
عالمانو له عِلم ورکوی. ۲۲ هغه ژور او پټ د راز څیزونه
څرګندوی، هغه ترې خبر دے څهٔ چې په تیارهٔ کښې پراتهٔ
دی، او د هغهٔ نه ګېرچاپېره نُور دے. ۲۳ زهٔ ستا ثناء صِفت
او شُکر ګزاری کوم، اے زما د پلار نیکهٔ پاکه خُدایه. ځکه
چې تا ما له پوهه او قدرت راکړے دے. تا ما ته هغه څهٔ
وښودل د څهٔ چې مونږ ستا نه غوښتنه وکړه، تا ما ته د
بادشاه خوب او د هغهٔ مسئله څرګنده کړه.“

## حضرت دانیال خوب تعبیروی

۲۴ نو بیا دانیال اریوک له لاړو، څوک چې بادشاه د بابل د
هوښیارانو د قتلولو دپاره مقرر کړے وو، ”د بابل هوښیار
خلق مهٔ قتلوه. ما بادشاه له بوځه، او زهٔ به د هغهٔ خوب تعبیر
هغهٔ ته ورکړم.“ ۲۵ نو اریوک سمدستی دانیال بادشاه له
بوتلو او هغهٔ بادشاه ته ووئیل، ”ما د یهوداه په جلاوطنو خلقو
کښې یو کس پیدا کړو څوک به چې بادشاه ته د هغهٔ د خوب
مطلب ووائی.“ ۲۶ بادشاه دانیال نه تپوس وکړو، چا ته به
یې چې بیلطشضر وئیل، ”آیا تهٔ ما ته دا وئیلے شې چې ما
څنګه خوب لیدلے دے او د هغې تعبیر کولے شې؟“ ۲۷
دانیال جواب ورکړو، ”د کوم راز چې بادشاه تپوس کوی
هغه هیڅ یو هوښیار، فالګر، جادوګر، او نجومی نهٔ شی کولے
چې هغه راز بیان کړی، ۲۸ خو په آسمان کښې یو خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاک موجود دے څوک چې پټ رازونه څرګندوی، هغۀ چې
نبوکدنضر بادشاه ته په خوب کښې ښودلی دی چې په
راتلونکو ورځو کښې به څۀ پېښ شی. کله چې تۀ په خپل کټ
کښې پروت وې او کوم خوب او رویا چې تا ولیدله او ستا
په ذهن کښې هغه تیره شوې ده هغه څۀ داسې ده. ۲۹ اے
بادشاه سلامت کله چې تۀ هلته پروت وې، نو ستا فکر او
سوچ د راتلونکو حالاتو طرف ته واوړېدو، او د رازونو ښکاره
کوونکی درته دا وښودل چې په آئنده کښې به څۀ کیږی. ۳۰
دا کوم راز چې ما ته څرګند شو، د دې دا مطلب نۀ دے چې
ګنې زۀ دې د نورو کسانو نه ډېر هوښیار یم، خو دا د دې
دپاره چې تۀ، اے بادشاه سلامت، د دې راز په تعبیر باندې
کوم چې ستا په خیال کښې تیر شو پوهه شې. ۳۱ اے
بادشاه سلامت تا په خوب کښې ولیدل چې یوه لویه
ځلېدونکې او حېرانوونکې مجسمه ستا په وړاندې ولاړه وه او
هغه یروونکې وه. ۳۲ د دې مجسمې سر د خالصو سرو زرو
نه جوړ شوے وو، د هغې سینه او لاسونه د سپینو زرو نه، د
هغې ګېډه او پتونونه د زېړو نه جوړ وُو، ۳۳ د دې پنډۍ د
اوسپنې، او د پښو څۀ حِصه د اوسپنې او څۀ حِصه د پخې
شوې خاورې نه جوړه شوې وه. ۳۴ هرکله چې تا دې ته
کتل، نو په دې وخت کښې د غرۀ نه یو لوئ کاڼے په خپله
راجدا شو، خو د انسان په لاسونو نه. هغه د هغه مجسمې په
پښو راپرېوتو کومې چې د اوسپنې او خاورو نه جوړې شوې
وې او هغه یې ټوټه ټوټه کړې. ۳۵ نو بیا اوسپنه، خاوره،
زېړ، سپین زر او سرۀ زر ټول ټوټه ټوټه شو او داسې والوتل
لکه څنګه چې په اوړی کښې بوس د غنمو په درمند کښې
الوځی. هوا هغه ټول یوړل او هیڅ نښه یې پاتې نۀ شوه. خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه کاڼی کوم چې دا مجسمه وویشته هغې نه یو لوئ غر
جوړ شو او ټوله زمکه یې ونیوله. ۳۶ دا ستا خوب وو، او
زۀ به یې اوس تعبیر هم درته بیان کړم. ۳۷ تاسو، اے
بادشاه سلامت، د ټولو بادشاهانو نه لوئ بادشاه یئ. آسمانی
خُدائ پاک درته بادشاهی او قدرت، زور شان او شوکت
درکړے دے. ۳۸ هغۀ ستا لاسونو ته ټول انسانان او ځناور
او د هوا مارغان حواله کړی دی. چرته چې هم دوئ
اوسیږی، هغۀ تۀ په هغوئ ټولو حکمران مقرر کړے یې. او
هغه د سرو زرو سر تۀ په خپله یې. ۳۹ ستا نه وروستو، به
یوه بله بادشاهی قائمه شی چې ستا د بادشاهۍ نه به کمزورې
وی، او بیا به دریمه بادشاهی راشی، د زیړو به وی، او دا به
په ټوله زمکه حکمرانی وکړی. ۴۰ په آخر کښې به بیا
څلورمه بادشاهی راشی چې د اوسپنې په شان به مضبوطه
وی ځکه چې اوسپنه هر څۀ ماتوی او ټوټه ټوټه کوی، نو بیا
څنګه چې اوسپنه خیزونه ټوټه ټوټه کوی نو داسې به هغه نور
ټول مات او ټوټه ټوټه کړی. ۴۱ لکه څنګه چې تا ولیدل چې
د هغې د پښو او ګوتو څۀ حِصه د اوسپنې او څۀ حِصه د
پخې خاورې نه جوړه وه نو دا به جدا شوے بادشاهت وی،
خو بیا به هم په کښې څۀ نا څۀ د اوسپنې زور پاتې وی،
څنګه چې تا اوسپنه خاورې سره یوځائ ولیدله. ۴۲ کۀ څۀ
هم چې تا ولیدل چې اوسپنه د ختې سره ګډه شوې وه، نو بیا
به د دې بادشاهۍ څۀ حِصه طاقتوره او څۀ حِصه کمزوری
وی. ۴۳ تاسو ولیدل چې اوسپنه د خاورې سره یوځائ
شوې وه، نو بیا به دغه شان د هغه بادشاهۍ خلق هم کوشش
وکړی چې د یو بل سره په وادۀ کولو د یو بل ملاتړ جوړ شی،
خو دوئ به په خپلو کښې په اتفاق نۀ شی لکه څنګه چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوسپنه د خاورو سره یوځائ کېدلے نۀ شی. ۴۴ د هغه
بادشاهانو په زمانه کښې، به آسمانی خُدائ پاک داسې
بادشاهی راولی چې هغه به هیڅکله نۀ ختمېږی، نۀ به دا بل
قوم نیولے شی. هغه به دا ټول بادشاهتونه مات کړی او ختم
به یې کړی، خو دا به د تل دپاره پاتې شی. ۴۵ دا د غرۀ نه د
کاڼی د راجدا کېدلو د رویا تعبیر دے، خو د انسانانو په
لاسونو نه، هغه کاڼی چې اوسپنه، زېړ، خاوره، سپین زر او
سرۀ زر یې ټوټه کړل. لوئ خُدائ پاک بادشاه ته دا ښودلی
دی چې په راتلونکی وخت کښې به څۀ کیږی. دا خوب رښتیا
او تعبیر یې باوری دے.“

## د بادشاه حضرت دانیال ته انعام ورکول

۴۶ نو بیا نبوکدنضر بادشاه د دانیال په وړاندې ټیټ شو او
د هغۀ عزت یې وکړو او حکم یې وکړو چې هغۀ ته د غلو دانو
او د خوشبو نذرانې وړاندې کړئ. ۴۷ بادشاه دانیال ته
ووئیل، ”بېشکه ستا خُدائ پاک د ټولو معبودانو خُدائ پاک
دے او د بادشاهانو مالِک دے او د رازونو ښکاره کوونکے
دے. ځکه چې تا ته دا راز څرګند کړے شو.“ ۴۸ بیا
بادشاه دانیال ته لوئ مقام ورکړو، او ډیرې او ښکلې تحفې
یې ورکړې. بادشاه هغه د بابل په ټوله صوبه باندې حکمران
او د ټولو هوښیارانو مشر مقرر کړو. ۴۹ نو د دانیال په
خواست سره بادشاه شدرک، میشک، او عبدنجو د بابل د
صوبې په انتظامیه کښې آفسران مقرر کړل، او په خپله دانیال
په شاهی دربار کښې پاتې شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د سرو زرو د مجسمې د عبادت حکم

٣ ١ نبوکدنضر بادشاه يوه د سرو زرو مجسمه جوړه
کړه چې لس کم سل فټه اوچته او نهۀ فټه پلنه وه، او هغۀ هغه
د بابل په صوبه کښې د دُورا په مېدان کښې ودروله. ٢ نو
بيا بادشاه ټولو حکمرانانو، مشيرانو، خزانچيانو، قاضيانو او
د صوبو آفسرانو ته پېغام ولېږلو چې د مجسمې د لګولو
مراسمو له راشئ کومه چې هغۀ ودرولې وه. ٣ نو بيا ټول
حکمرانان، مشيران، خزانچيان، قاضيان، او د صوبې نور
آفسران د مجسمې د وقف کېدو رسم له راغونډ شول کومه
چې نبوکدنضر بادشاه ودرولې وه او د هغې په وړاندې هغوئ
ودرېدل. ٤ نو بيا ډندورچى په اوچت آواز اعلان وکړو،
”اے د ټولو قومونو، ذاتونو او ژبو خلقو، تاسو ته دا حکم
دے چې هغه ضرور سر ته ورسوئ. ٥ خنګه چې تاسو د
بيګل، شپېلۍ، رباب، بينجو، سرينډې، ستار او هر قسمه
موسيقۍ او سازونو آواز واورئ نو هغه د سرو زرو مجسمې
ته عبادت او سجده وکړئ کومه چې نبوکدنضر بادشاه
ودرولې ده. ٦ هر هغه څوک چې عبادت او سجده ونۀ
کړى نو هغه به سمدستى د اور په لمبه بټۍ کښې وغورزولے
شى.“ ٧ نو هرکله چې هغوئ د بيګل، شپېلۍ، رباب،
بينجو، سرينډې، ستار او هر قسمه موسيقۍ او سازونو آواز
واورېدو، نو د ټولو خلقو او ټولو قومونو او د هرې ژبې
خلقو، هغه د سرو زرو مجسمې ته سجده وکړه او د هغې
عبادت يې وکړو، کومه چې نبوکدنضر بادشاه ودرولې وه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت دانیال په دوستانو د نافرمانۍ اِلزام

٨ نو په دې موقع څۀ نجومیان بادشاه له ورغلل او د
یهودیانو خلاف یې سخت شکایت وکړو. ٩ هغوئ
نبوکدنضر بادشاه ته ووئیل چې، "اے بادشاه، تۀ دې د تل
دپاره ژوندے یې. ١٠ اے بادشاه سلامت، تاسو یو فرمان
جارى کړے دے، هغه دا چې هر څوک چې د بیګل، شپیلۍ،
رباب، بینجو، سریندې، ستار او هر قسمه موسیقۍ او
سازونو آواز واورى هغوئ دې د سرو زرو مجسمې ته سجده
وکړى او د هغې عبادت دې وکړى. ١١ او هر څوک چې دې
مجسمې ته سجده ونۀ کړى او د هغې عبادت ونۀ کړى، نو
هغه به د بل شوې اور بټۍ ته ضرور وغورزولے شى. ١٢
خو اے بادشاه سلامت، دلته یو څو یهودیان دى څوک چې تا
د بابل په صوبې باندې مشران مقرر کړى دى، شدرک،
میشک او عبدنجو، څوک چې تا له توجو نۀ درکوى. نۀ
هغوئ ستا د معبودانو خِدمت کوى او نۀ د هغه سرو زرو د
مجسمې عبادت کوى کومه چې تا ودرولې ده." ١٣ نو بیا په
دې باندې بادشاه ډیر غصه شو او حکم یې وکړو چې
سمدستى شدرک، میشک، او عبدنجو ما ته حاضر کړئ. نو
دا کسان بادشاه له راوستلے شول. ١٤ نو بیا نبوکدنضر
هغوئ ته ووئیل، "شدرک، میشک او عبدنجو ولې دا خبره
رښتیا ده چې تاسو زما د معبودانو خِدمت او د هغه سرو زرو
د مجسمې عبادت نۀ کوئ کومه چې ما ودرولې ده؟ ١٥
اوس کله چې تاسو د بیګل، شپیلۍ، رباب، بینجو، سریندې،
ستار او هر قسمه موسیقۍ او سازونو آواز واورئ، نو کۀ
چرې تاسو دې ته تیار یئ چې هغه د سرو زرو د مجسمې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وړاندې ټيټ شئ او د هغې عبادت وکړئ کومه چې ما جوړه
کړې ده، نو ډېره ښۀ ده. خو کۀ چرې تاسو د هغې عبادت
ونۀ کړئ نو تاسو به سمدستى د اور بټۍ ته وغورزولے شئ.
نو کوم يو معبود به تاسو زما د لاسه خلاص کړى؟“ ۱۶
شدرک، ميشک او عبدنجو بادشاه ته جواب ورکړو، ”اے
نبوکدنضره، مونږ ته د دې ضرورت نشته چې ستا نه په دې
معامله کښې د خپل ځان ساتنه وکړُو. ۱۷ اے بادشاه کۀ
چرې مونږ د بل شوې اور بټۍ ته وغورزولے شُو، نو د کوم
خُدائ پاک چې مونږ خِدمت کوُو هغه دا کولے شى چې
مونږ د هغې نه وساتى، او هغه به مونږ ستا د لاسونو نه بچ
کړى. ۱۸ اے بادشاه سلامت، خو کۀ چرې هغه مونږ ستا
نه بچ هم نۀ کړى، خو تۀ په دې پوهه شه چې مونږ به نۀ ستا د
معبودانو عبادت او نۀ د هغه سرو زرو د مجسمې عبادت
وکړُو کومه چې تا ودرولې ده.“

## د حضرت دانيال دوستانو له د مرګ سزا اورول

۱۹ نو بيا نبوکدنضر شدرک، ميشک او عبدنجو ته ډېر
سخت غصه شو، او د غصې نه د هغۀ رنګ تک سور شو. او
هغۀ حکم وکړو چې هغه د اور بټۍ د پخوا نه اووۀ ځله زياته
ګرمه کړئ. ۲۰ او هغۀ په خپل فوج کښې څو تکړه کسانو ته
حکم وکړو چې شدرک، ميشک او عبدنجو کلک وتړئ او په
بټۍ کښې يې د اور لمبو ته وغورزوئ. ۲۱ نو بيا هغوئ هغه
درې واړه کسان د خپلو قميصونو، پرتوګونو، چوغو او پټکو
سره وتړل او د اور لمبو ته يې په بټۍ کښې وروغورزول. ۲۲
خو د بادشاه حکم ډېر زورَور وو او بټۍ ډېره زياته ګرمه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوې وه نو ځکه د اور شغلو هغه فوجيان وسوزول او مړهٔ يې کړل چا چې شدرک، ميشک او عبدنجو د اور په بټۍ کښې وغورزول. ۲۳ نو دا درې کسان کلک تړلے شوى ؤو او د اور بټۍ کښې يې وغورزول. ۲۴ سمدستى په حيرانتيا سره نبوکدنضر راپاڅېدو او هغهٔ د خپلو مشيرانو نه تپوس وکړو، ”ولې مونږ درې کسان نهٔ ؤو تړلى او په دې بټۍ کښې مو نهٔ ؤو غورزولى څهٔ؟“ په جواب کښې هغوئ ورته ووئيل چې، ”آو جي، اے بادشاه سلامت.“ ۲۵ هغهٔ ووئيل چې، ”خو وګورئ، زهٔ درې نه، بلکې څلور کسان وينم چې په اور کښې ګرځى، چې نهٔ تړلے شوى دى او نهٔ ورته څهٔ نقصان رسېدلے دے او څلورم کس لکه د مقدسې فرښتې په شان ښکارى.“

## د حضرت دانيال د دوستانو آزادېدل او هغوئ ته اوچت مقام ورکول

۲۶ نو بيا نبوکدنضر د اور د بټۍ خولې ته نزدې ورغلو او آواز يې ورکړو، ”شدرک، ميشک او عبدنجو، د خُدائ تعالىٰ خِدمتګارانو، بهر راوځئ. دلته راشئ.“ نو شدرک، ميشک او عبدنجو د اور نه بهر راووتل. ۲۷ نو بيا لوئ آفسران، سرکارى کسان، حکمرانان، او مشيران د هغوئ نه ګېرچاپېره راټول شول او وې ليدل چې اور بلکل د هغوئ بدن ته څهٔ نقصان نهٔ دے ورکړے، او نهٔ د هغوئ د سر وېښتهٔ راګونجى شوى دى، او د هغوئ چُوغې هم نهٔ دى سوزېدلې، او د هغوئ د بدن نه د اور بوئ هم نهٔ تلو. ۲۸ نو بيا نبوکدنضر ووئيل، ”د شدرک، ميشک او د عبدنجو د خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاک ثناء دې وی چا چې خپله فرښته راولیږله او خپل
خِدمتګاران يې بچ کړل. د هغوئ په هغهٔ باندې ايمان وو او
زما حکم يې د پښو لاندې کړو او هغوئ دې ته تيار وُو چې د
خُدائ پاک دپاره خپل ژوند د لاسه ورکړی نهٔ دا چې د هغهٔ
په ځائ د بل معبود خِدمت او عبادت وکړی. ٢٩ نو په دې
وجه زهٔ دا حکم جاری کوم چې د ټولو خلقو او قومونو او د
هرې ژبې خلق کهٔ چرې هغوئ د شدرک، ميشک او عبدنجو
د خُدائ پاک خلاف څهٔ ووائی نو هغوئ به ټوټې ټوټې شی او
د هغوئ کورونه به تباه کړے شی، ځکه چې بل يو معبود هم
داسې نشته چې څوک داسې بچ کړی.“ ٣٠ نو بيا بادشاه
شدرک، ميشک او عبدنجو ته د بابل په صوبه کښې نور هم
اوچت مقام ورکړو.

## د نبوکدنضر دويم خوب ليدل

۴ ١ نبوکدنضر بادشاه د دُنيا ټولو خلقو، ټولو قومونو، او
ټولو ژبو ويوونکو ته دا پيغام ورولېږلو چې، په خير اوسئ.
٢ زهٔ غواړم چې تاسو ته د هغه معجزو او حېرانونکو نښو
په حقله خبرې وکړم کومې معجزې چې خُدائ تعالیٰ زما
دپاره کړې دی. ٣ د هغهٔ معجزې څومره لوئ دی، او د
هغهٔ عجائبات څومره طاقتور دی. د هغهٔ بادشاهی تر ابده
پورې ده، او د هغهٔ بادشاهی نسل در نسل پورې ده. ۴ ما
نبوکدنضر په خپل محل کښې په آرام او عيش عشرت سره
ژوند کولو. ۵ ما يو خوب وليدو کوم چې زهٔ ويرولم. کله
چې زهٔ په خپل کټ کښې پروت وم، نو کومه رويا او تصور
چې زما په خيال کښې راغلو نو هغې زهٔ ډېر زيات ويرولم.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ نو ما بيا حکم وکړو چې د بابل ټول هوښيار خلق
راوغواړئ چې زما د خوب تعبير وکړى. ۷ نو کله چې
جادوګر، فالګر، نجوميان او قسمت معلومونکى راغلل، ما
هغوئ ته خوب ووئيلو خو هغوئ د هغې تعبير ما ته ونۀ کړے
شو. ۸ خو آخر دانيال زما حضور ته راغلو، او ما ورته
خپل خوب بيان کړو. مقدسو معبودانو ورته خاص طاقت
ورکړے وو، او ما په هغۀ باندې د خپل معبود بيلطشضر نوم
کېښودو. او د معبودانو روح په هغۀ کښې وو. ۹ ما ورته
ووئيل چې، ”بيلطشضر د جادوګرانو مشره زۀ په دې پوهېږم
چې د معبودانو روح په تا کښې دے، او هيڅ راز معلومول
ستا دپاره مشکل کار نۀ دے. زما خوب داسې دے، او تۀ يې
ما ته تعبير راکړه. ۱۰ کله چې زۀ په خپل کټ کښې اودۀ وم
ما دا خوب وليدلو، ما وليدل، زما په وړاندې د زمکې په مينځ
کښې يوه ونه ولاړه وه. او هغه ډېره زياته اوچته وه. ۱۱ دا
ونه ډېره غټه او لوړه او طاقتوره شوه او سر يې د آسمان
سره ولګېدو، او دا به د ټولې دُنيا د بل سر نه ښکاريدله. ۱۲
د هغې پاڼې ښکلې وې، او مېوه يې ډېره وه، او په دې کښې د
هر چا خوراک وو. او د هغې لاندې د مېدان ځناورو د ځان
دپاره د پناه ځائ پيدا کړو، او د هوا مارغانو يې په څانګو
کښې ځان له جالې جوړې کړې، او هغې نه هر يو مخلوق ته
خوراک مِلاويدلو. ۱۳ کله چې ما لا په خوب کښې د دې
رويا په حقله سوچ کولو، نو ومې ليدل چې د آسمان نه يوه
مقدسه فرښته راکوزيده، چې اخوا ديخوا يې کتل. ۱۴ هغې
په زور سره دا اعلان وکړو چې، دا ونه راوغورزوئ او
څانګې يې پرې کړئ، د دې پاڼې راوشوکوئ او مېوه يې تس
نس کړئ. د دې لاندې ځناور او د څانګو نه يې مارغان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وشړېږئ. ۱۵ خو د دې بېخ په زمکه کښې پرېږدئ او د
اوسپنې او زېړو پتی، ترې نه تاو کړئ. او هلته يې په وابښو
کښې پرېږدئ. نو پرېږدئ چې هغه په پرخه کښې لوند شی او
هغه دې په ځنګل کښې د ځناورو سره اوسيږی. ۱۶ اووۀ
کاله به هغه د انسان عقل نۀ لری بلکې د هغۀ عقل به د
ځناورو وی. ۱۷ د هغه فرښتې د سزا ورکولو فيصله
واورولے شوه، ترڅو چې هر يو کس ته د دې پته ولګی چې
خُدائ تعالىٰ د انسانانو په بادشاهئ باندې اختيار لری او چې
هغه چا له وغواړی نو هغۀ له بادشاهی ورکوی، کۀ څۀ هم
چې هغه کس ډېر غريب وی." ۱۸ نبوکدنضر بادشاه ووئيل،
"دا هغه خوب دے چې ما وليدلو. نو بيا بيلطشضره، تۀ ما ته
د دې تعبير بيان کړه ځکه چې زما يو شاهی مشير هم ما له د
دې تعبير نۀ شی راکولے. خو تۀ يې راکولے شې ځکه چې د
مقدسو معبودانو روح په تا کښې دے."

## د حضرت دانيال د دوېم خوب تعبير ورکول

۱۹ نو دانيال، چې بل نوم يې بيلطشضر وو، په دې دومره
هيبت واخستو چې د څۀ وخت دپاره هيڅ يې هم نۀ شو
فرمائيلے، او د هغۀ سوچ هغه وارخطا کړو. نو بادشاه هغۀ ته
ووئيل، "بيلطشضره، په دې خوب او د هغې په مطلب مۀ
خفه کېږه." خو بيلطشضر ورته په جواب کښې وفرمائيل،
"بادشاه سلامت، زۀ غواړم چې دا خوب او د دې تعبير دې
ستا دپاره نه بلکې ستا د دشمنانو دپاره وی. ۲۰ هغه ونه
چې تا وليدله، کومه چې دومره لوړه وه چې آسمان ته
رسېدلې وه او په دُنيا کښې هر چا ته ښکارېدله، ۲۱ د هغې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاڼې ښائسته وې او مېوه يې دومره زياته وه چې د ټولې دُنيا
دپاره کافي وه. ځنګلي ځناورو د دې لاندې آرام کولو او
مارغانو به د دې په څانګو کښې جالې جوړولې. ۲۲ اے
بادشاه سلامت، تهٔ په خپله هغه ونه يې. تهٔ ډېر اوچت او
مضبوط شوے يې، تهٔ دومره لوئ شوے يې چې لويوالے دې
تر آسمانه پورې رسېدلے دے او ستا بادشاهت د زمکې د بله
سره پورې رسيږى. ۲۳ اے بادشاه سلامت، تا يوه مقدسه
فرښته وليدله، چې د آسمان نه لاندې راکوزېدله او فرمائيل
يې چې، دا ونه ووهئ او تباه يې کړئ، خو د هغې تنه او
جرړې په زمکه کښې پرېږدئ او د اوسپنې او زېړو په زنځير
يې وتړئ او په واښو کښې يې پرېږدئ. او پرېږده چې په پرخه
کښې لوند شى، او چې د اوو کالونو پورې د ځنګلي ځناورو
په مينځ کښې پاتې شى. ۲۴ اے بادشاه سلامت، ستا د
خوب تعبير دا دے کومه فېصله چې خُدائ تعالىٰ ستا خلاف
کړې ده. ۲۵ تهٔ به د خلقو نه يوې خوا ته وشړلے شې او د
ځنګلي ځناورو سره به ژوند کوې، تهٔ به لکه د څاروو په شان
ګياه خورې او د آسمان په پرخه به تر کولے شې. نو بيا به
اووهٔ کالونه تير شى ترڅو چې تهٔ په دې باندې پوهه شې چې
صرف خُدائ تعالىٰ د انسانانو په بادشاهت اختيار لرى او
هغه چا له يې ورکوى چې چا له يې زړهٔ غواړى. ۲۶ د
فرښتې هغه حکم چې د ونې تنه سره د جرړو پرېږدئ نو د
هغې مطلب دا دے چې ستا بادشاهى به بيا راشى خو کله
چې تاسو آسماني حکومت ومنئ. ۲۷ بادشاه سلامت، په
دې وجه دې زما نصيحت تا ته د منلو وى، د خپلو ګناهونو
اعتراف وکړه او هغه په ښو کولو سره پرېږده، او په
مظلومانو رحم وکړه او شرارت پرېږده. نو کېدے شى چې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې کښې به ستا د بادشاهۍ خير قائم پاتې شى." ۲۸ بيا دا
هر څۀ په نبوکدنضر بادشاه وشُو. ۲۹ دولس مياشتې
وروستو کله چې هغه په بابل کښې د شاهى محل په چت
باندې ګرځېدو، ۳۰ هغۀ ووئيل چې، "ولې دا هغه لوئ د بابل
ښار نۀ دے کوم چې د بادشاهانو د اوسېدو دپاره ما په خپل
زور طاقت سره د خپل جلال او شان شوکت د ځرګندېدو
دپاره آباد کړے دے؟" ۳۱ هغه خبره لا د هغۀ په شونډو وه
چې د آسمان نه يو آواز راغلو، "نبوکدنضر بادشاه ستا دپاره
دا حکم دے چې، ستا نه هغه شاهى اختيارات واخستلے
شو. ۳۲ تۀ به د خلقو نه وشړلے شې او د ځنګلى ځناورو
سره به اوسېږې، تۀ به لکه د څاروو په شان ګياه خورې. په
دې به اووۀ کالونه تير شې ترڅو چې تۀ په دې باندې پوهه
شې چې خُدائ تعالىٰ د انسانانو په بادشاهت اختيار لرى او
هغه چا له يې ورکوى چې چا له يې زړۀ غواړى." ۳۳ نو
سمدستى هغه څۀ پوره شُو څۀ چې د نبوکدنضر په حقله
وئيلى شوى وُو. هغه د خلقو د مينځ نه وشړلے شو او د
ځناورو په شان يې ګياه وخوړله. د هغۀ په بدن پرخه ورېدله
تر هغې پورې د هغۀ وېښتۀ لکه د شاهين د بڼو په شان لوئ
شُو او د هغۀ نوکونه لکه د مارغانو د پنجو په شان اوږدۀ
شول.

## د نبوکدنضر د خُدائ پاک ثناء صِفت بيانول

۳۴ د اوو کالونو نه وروستو، ما نبوکدنضر خپلې سترګې د
آسمان طرف ته اوچتې کړې، او زما عقل دوباره بحال شو.
او ما د خُدائ تعالىٰ ثناء صِفت ادا کړو، او د هغۀ احترام او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جلال مې بيان کړو څوک چې د تل دپاره ژوندے دے. د هغهٔ
بادشاهی تر ابده پورې ده، او د هغهٔ بادشاهی نسل در نسل
پورې ده. ۳۵ د هغهٔ په مقابل کښې د زمکې ټول خلق هيڅ نهٔ
دی. هغه د آسمانی فرښتو او د زمکې د خلقو سره چې څهٔ
غواړی هغه کوی. د هغهٔ لاس هيڅوک نهٔ شی نيولے او نهٔ
ورته څوک دا وئيلے شی چې، ”تا څهٔ وکړل؟“ ۳۶ په هم
هغه وخت کښې کله چې زما عقل کار شروع کړو، نو زما
عزت او شان و شوکت ما ته د خپلې بادشاهئ دپاره واپس
مِلاو شو او زما مشيرانو او آفسرانو ما ته حلف راکړو، زهٔ په
خپل تخت باندې دوباره کښېناستلم. او د پخوا نه زما عزت
نور هم زيات شو. ۳۷ نو اوس، زهٔ نبوکدنضر، د آسمان د
بادشاه ثناء صِفت او لوئی بيانوم، ځکه څهٔ چې هغه کوی هغه
صحيح دی او د هغهٔ ټول کارونه د اِنصاف دی. او هغوئ
څوک چې کبر او لوئی کوی نو هغه يې عاجز کولے شی.

## د بيلشضر مېلمستيا

۵ ۱ يوه ورځ بيلشضر بادشاه يوه لويه مېلمستيا تياره
کړه او د خپلو آفسرانو نه يې زر کسان راوغوښتل او د هغوئ
سره يې يوځائ مے وڅښل. ۲ کله چې بيلشضر خپل مے
څښل، نو هغهٔ حکم وکړو چې هغه د سرو زرو او سپينو زرو
جامونه او پيالئ راوړئ کومې چې د هغهٔ پلار نبوکدنضر په
يروشلم کښې د مالِک خُدائ د کور نه راوړې وې، چې
بادشاه او د هغهٔ آفسران، د هغهٔ ښځې او د هغهٔ وينځې په
کښې مے وڅښی. ۳ نو بيا هغوئ د سرو زرو جامونه او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پیالۍ راوړې کومې چې په یروشلم کښې د خُدائ پاک د کور
نه راوړلے شوې وې، او بادشاه او د هغهٔ آفسرانو، د هغهٔ
ښځُو او د هغهٔ وینځُو په هغو کښې وڅښل. ۴ کله چې
هغوئ مے څښل، نو بیا هغوئ د سرو زرو، سپینو زرو،
پیتلو، اوسپنو، د لرګی او د کاڼو نه د جوړو شوو معبودانو
ثناء صِفت وکړو. ۵ او ناګهانه د انسان د لاس ګوتې
راښکاره شوې او د شاهی محل د دیوال په پلستر باندې د
شمعدان سره نزدې لیکل وکړل. کله چې هغه لاس لیکل کول
نو بادشاه په خپله هغه ولیدلو. ۶ د هغهٔ رنګ د یرې نه تک
زیړ شو او دومره یرېدلے وو چې د پښو د رپېدو په وجه په
ځائ ودرېدلے نهٔ شو. ۷ نو بادشاه په تېزه آواز وکړو چې
جادوګر، فالګر او نجومیان راوغواړئ. نو د بابل دې
هوښیارو سړو ته بادشاه ووئیل چې، ”هر څوک چې دا
لیکلے شوی الفاظ ولولی او د هغې مطلب راته بیان کړی نو
هغهٔ ته به کاسنی چُوغه د عزت دپاره ورواغوستلے شی او د
هغهٔ په غاړه کښې به د سرو زرو هار واچولے شی، او په
بادشاهۍ کښې به ورته درېم مقام مِلاو شی.“ ۸ نو بیا د
بادشاه ټول هوښیاران راغلل، خو هغوئ هغه لیکل ونهٔ شُو
لوستلے او نهٔ یې بادشاه ته دا وئیلے شُو چې د دې څهٔ
مطلب دے. ۹ نو بیا بیلشضر بادشاه نور هم یرې واخستو
او د هغهٔ رنګ نور هم زیړ شو. او د هغهٔ ټول آفسران هم
پرېشانه شول. ۱۰ خو کله چې د بادشاه مور د بادشاه او د
هغهٔ د مشیرانو شور شرابه واورېده، نو هغه د مېلمنو هال ته
راننوتله. هغې ووئیل چې، ”اے بادشاه سلامت تهٔ دې د تل
دپاره ژوندے یې. مهٔ وارخطا کېږه، هېر مهٔ زېړېږه. ۱۱ ستا
په بادشاهۍ کښې یو سړے دے چې په هغهٔ کښې د پاکو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

معبودانو روح دے. ستا د پلار په زمانه کښې په هغۀ کښې د
معبودانو په شان عقل، حکمت او پوهه ښکاره شوه.
نبوکدنضر بادشاه ستا پلار هغه د جادوګرو، فالګرو،
نجومیانو او پیشګویانو والا مشر مقرر کړے وو. ۱۲ دا
سړے دانیال، چا ته چې بادشاه بیلطشضر نوم ورکړو،
بېشانه قابلیت او پوهه لری، او هغه د خوبونو په تعبیر، د
مشکلو دونو په حل کولو او د راز په خبرو څرګندولو کښې
تکړه او ماهِر دے. نو دانیال راوغواړه، هغه به درته ووائی
چې د دې لیکلو مطلب څۀ دے.“

## د حضرت دانیال د هغه لیکلو وضاحت کول

۱۳ نو بیا دانیال د بادشاه حضور ته راوستلے شو، او
بادشاه هغۀ ته ووئیل، ”تۀ هغه دانیال یې څۀ، څوک چې زما
پلار نبوکدنضر بادشاه د یهوداه د جلاوطنو سره د یهوداه نه
دلته راوستے وو؟ ۱۴ ما اورېدلی دی چې په تا کښې د
خُدایانو علم دے، او ستا عقل، پوهه او خاص حِکمت ډېر
لوئ دے. ۱۵ زما په وړاندې هوښیاران او جادوګران
راوستلے شوی وُو چې دا لیکلے شوی الفاظ ولولی او ما ته
یې مطلب بیان کړی، خو هغوئ د دې مطلب بیان نۀ کړے
شو. ۱۶ خو اوس ما دا اورېدلی دی چې تۀ تعبیر ورکولے
شې او مشکلې مسئلې حل کولے شې. کۀ تۀ دا لیکل
لوستلے شې او ما ته د دې مطلب بیانولے شې، نو ستا د
عزت دپاره به تا ته کاسنی شاهی چُوغه درواغوستلے شی او
ستا په غاړه کښې به د سرو زرو هار واچولے شی، او په
بادشاهۍ کښې به درته درېم لوئ مقام درکړے شی.“ ۱۷ نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دانیال بادشاه ته جواب ورکړو، "قربان تحفې دې بل چا له
ورکړه او یا یې ځان سره کړه. خو بیا به هم زهٔ دا لیکل
بادشاه ته ولولم او هغهٔ ته به یې مطلب بیان کړم. ۱۸ اے
بادشاه سلامت، خُدائ تعالیٰ ستا پلار نبوکدنضر ته
بادشاهت، لویوالے، جلال او شان و شوکت ورکړی وُو.
۱۹ هغهٔ، هغهٔ له ډېر اوچت مقام ورکړے وو نو په دې وجه
د ټولو خلقو د ټولو قومونو، او ټولو ژبو خلق د هغهٔ په
وړاندې د یرې نه ریږدېدل. څوک به چې هغهٔ مړ کول غوښتل
نو مړ به یې کړو، څوک به یې چې ژوندے پرېښودل غوښتل
نو هغه به یې ژوندے پرېښودو، او چا ته به یې چې ترقی
ورکول غوښتل نو هغهٔ له به یې ترقی ورکړه، او څوک به یې
چې عاجز کول غوښتل هغه به یې عاجز کړو. ۲۰ خو کله
چې د هغهٔ زړهٔ مغروره شو، او کبر یې اختیار کړو، نو هغه د
خپلې بادشاهۍ تخت نه کوز کړے شو او هغه د خپل عزت نه
محروم کړے شو. ۲۱ هغه د بنیادمو د مینځ نه وشړلے شو
او هغهٔ ته د ځناورو عقل ورکړے شو، او هغه د ځنګلی خرو
سره اوسېدو. هغهٔ لکه د ځاروی په شان ګیاه وخوړه، او د
هغهٔ بدن د آسمان په پرخه باندې تر شو، ترڅو چې هغهٔ دا
ویېژندل چې خُدائ تعالیٰ د بنیادمو په بادشاهت باندې اختیار
لری او هغه چا له یې ورکوی چې چا له یې زړهٔ غواړی. ۲۲
خو تا د هغهٔ زویه بیلشضره، خپل ځان د هغهٔ په وړاندې
عاجز نهٔ کړے شو، باوجود د دې چې تهٔ په دې هر څهٔ باندې
خبر وې. ۲۳ بلکې، تا خپل ځان د آسماني مالِک په خلاف
راپورته کړو. د هغهٔ د کور جامونه او پیالۍ ستا په وړاندې
راوړلے شوی دی. تا او ستا آفسرانو، ستا ښځو، او ستا
وینځو په هغې کښې مے وڅښل. تا د سرو زرو او سپینو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زرو، د زېړو، د اوسپنې، لرګی او د کاڼو نه د جوړو شوو
معبودانو ثناء صِفت وکړو، څوک چې نۀ لیدلے شی او نۀ
اورېدلے شی او نۀ پوهېږی. خو تا د هغه مالِک خُدائ عزت
ونۀ کړو د چا په لاس کښې چې ستا ژوند او ستا ټولې لارې
دی. ۲۴ نو په دې وجه خُدائ پاک لاس راولېږلو کوم چې دا
پېغام ولیکلو. ۲۵ دا هغه پېغام دے کوم چې لیکلے شوے
وو، منې، منې تقیل، فرسین. ۲۶ د دې الفاظو مطلب دا
دے. منې، د دې مطلب دے شمېر، خُدائ پاک ستا د
بادشاهۍ ورځې شمېرلې دی او هغه یې ختمې کړې دی. ۲۷
تقیل، مطلب دے وزن، تۀ په تله باندې وتللے شوې او په
وزن هېر سپک وختلې. ۲۸ د فرسین، معنیٰ دا ده چې
تقسیم، ستا بادشاهی تقسیم شوې ده او هغه میدیانو او
فارسیانو ته ورکړے شوې ده.“ ۲۹ نو بیا د بیلشضر په
حکم، دانیال ته کاسنی رنګ چُوغه ورواغوستلے شوه، د
هغۀ په غاړه کښې یې د سرو زرو هار ورواچولو، او په
بادشاهۍ کښې هغه د درېم اوچت مقام په توګه اعلان کړے
شو. ۳۰ نو په هم هغه شپه بیلشضر د بابل بادشاه ووژلے
شو، ۳۱ داریوس میدی چې د دوو شپیتو کالو وو نو
بادشاهی یې ونیوله.

## حضرت دانیال د زمرو په غار کښې اچول

۶ ۱ داریوس دا فیصله وکړه چې ټوله بادشاهی په یو سل
او شل صوبو باندې تقسیم کړی، او هغۀ لوئ آفسران مقرر
کړل چې په هره صوبه حکمرانی وکړی. ۲ بادشاه دانیال

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او دوه نور کسان په دې آفسرانو سر پرست مقرر کړل چې په
آفسرانو او د بادشاه په ګټو باندې نظر وساتی. ٣ دانیال زر
دا ثابته کړه چې هغه د نورو وزیرانو او لوئ آفسرانو نه ډېر
قابل دے. نو بیا ځکه بادشاه دا فېصله وکړه چې هغه په ټوله
بادشاهئ باندې حاکِم مقرر کړی. ٤ نو په دې وجه نور
وزیران او لوئ آفسران په دې لټون کښې شُو چې د هغهٔ په
حکومتی انتظام کښې څهٔ داسې غلطی پېدا کړی. خو هغوئ
څهٔ داسې هیڅ څیز د هغهٔ خلاف پېدا نهٔ کړلو چې هغه پرې
ملامته کړی، ځکه چې هغه ډېر ایماندار وو او هیڅ قسم
غلطی او بې‌ایمانی یې نهٔ کوله. ٥ آخر هغه کسانو دا ووئیل
چې، ”دې طریقې سره به مونږ په دانیال هیڅ قِسمه اِلزام ونهٔ
لګولے شُو. خو یوه خبر ده چې د اِلزام باعث جوړېدے شی
یعنې د هغهٔ د خُدائ پاک د شریعت په حقله.“ ٦ نو بیا
وزیران او لوئ آفسران په یو ځائ بادشاه له ورغلل او ورته
یې ووئیل چې، ”داریوس بادشاه دې د تل دپاره ژوندے وی.
٧ مونږ د ټول مُلک شاهی وزیران، آفسران، مشیران،
مشران او حاکمان په دې راضی شوی یُو چې بادشاه دې یو
فرمان جاری کړی او په سختئ سره دې په هغې عمل وکړے
شی چې په راتلونکو دېرشو ورځو کښې هر څوک چې هم ستا
نه بغیر د بل معبود یا انسان عبادت وکړی، نو هغه دې د
زمرو په غار کښې واچولے شی. ٨ نو اوس، اے بادشاه
سلامت، دا حکم جاری کړه او مهر پرې ولګوه چې څوک هم
دا بدل نهٔ کړے شی، لکه د میدیانو او فارسیانو د قانون په
مطابق چې نهٔ منسوخ کېدونکے دے.“ ٩ نو بیا داریوس
بادشاه په لیکل شوے فرمان دستخط وکړو. ١٠ خو کله
چې دانیال په دې خبر شو چې دا فرمان جاری شوے دے،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو هغه په خپل کور کښې بره کوټې ته لاړو چې کړکۍ يې د
يروشلم طرف ته کولاو وې. نو هره ورځ به يې درې ځله
سجده او دُعا کوله، او د خپل خُدائ پاک شُکر به يې ادا
کولو، لکه څنګه چې هغۀ وړاندې کول. ۱۱ نو بيا دا کسان
په يو ځائ لاړل او دانيال يې وليدلو چې دُعا يې کوله او د
خپل خُدائ پاک نه يې مدد غوښتلو. ۱۲ نو بيا هغوئ بادشاه
له لاړل او هغۀ ته يې د هغه شاهي حکم په حقله ياداشت
ورکړو، "آيا تاسو دا حکم نۀ وُو جارى کړے چې په راتلونکو
ديرشو ورځو کښې هر چا هم بغير ستا نه اے بادشاه
سلامت، د بل معبود او يا انسان عبادت وکړو او يا دُعا يې
ترينه وغوښتله هغه به د زمرو په غار کښې واچولے شى؟"
بادشاه ورته جواب ورکړو چې، "آو، بلکل دا حکم د ميديانو
او فارسيانو د قانون په مطابق دے کوم چې نۀ شى
بدلېدلے." ۱۳ بيا هغوئ بادشاه ته ووئيل چې، "دانيال څوک
چې يو د يهوداه د جلاوطنو کسانو نه دے، هغه نه ستا پرواه
ساتى، اے بادشاه سلامت او نه ستا حکم ته څۀ توجو
ورکوى. هغه اوس هم په ورځ کښې درې ځله د خپل خُدائ
پاک نه دُعا غواړى." ۱۴ نو کله چې بادشاه دا خبره
واورېده، نو هغه ډېر زيات خفه شو. هغۀ دا اراده وکړه چې
دانيال بچ کړى او هغۀ ټوله ورځ تر نمر پرېوتو پورې د داسې
لارې چارې پيدا کولو کوشش وکړو چې دانيال بچ کړى. ۱۵
نو بيا هغه کسان په ډله بادشاه له ورغلل او هغۀ ته يې ووئيل،
"بادشاه سلامت، دا خبره ياد ساته چې، د ميديانو او
فارسيانو د قانون په مطابق کوم يو قانون او فرمان چې
بادشاه جارى کړى نو هغه بدلېدے نۀ شى." ۱۶ نو بيا
بادشاه حکم وکړو، او هغوئ دانيال راوستلو او هغه يې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمرو په غار کښې وروغورزولو. بادشاه دانيال ته ووئيل چې،
"ستا خُدائ پاک د کومې چې ته په وفادارئ خِدمت کوې، هغه
دې تا له خلاصون درکړی." ۱۷ يو ګټ راوړلے شو او د
غار په خوله کېښودے شو، او بادشاه پرې خپل مهر او د
خپلو حاکمانو مهرونه يې پرې ولګول، د دې دپاره چې څوک
دانيال بچ نۀ کړی. ۱۸ نو بيا بادشاه خپل شاهی محل ته
واپس شو او هغه شپه يې بې د خوراکه او د هر قسمه عيش
عشرت نه بغير تيره کړه. او هغه ټوله شپه ويښ وو او خوب
نۀ ورتلو. ۱۹ خو په توره خړه بادشاه پاڅېدو او د زمرو غار
ته په تيزئ سره ورغلو. ۲۰ نو کله چې هغه غار ته نزدې
وروړسېدو، نو هغۀ دانيال ته په غمژن آواز سره آواز ورکړو،
"اے دانياله، د ژوندی خُدائ خِدمت کوونکيه، ولې ستا
خُدائ پاک د چا چې ته په وفادارئ سره عبادت کوې، هغۀ
دا وکړے شو چې تا د زمرو نه بچ کړی؟" ۲۱ دانيال ورله
جواب ورکړو، "بادشاه سلامت، ته دې د تل دپاره ژوندے
اوسې. ۲۲ زما خُدائ پاک خپله فرښته راولېږله او هغې د
زمرو خولې بندې کړې. هغوئ ما ته هيڅ قسمه نقصان نۀ
دے رارسولے، ځکه چې زۀ هغۀ ته بې‌ګناه ثابت شوم.
بادشاه سلامت، نۀ ما ستا خلاف څۀ جرم کړے دے." ۲۳
بادشاه په دې بې‌حده خوشحاله شو او حکم يې وکړو چې
دانيال د غار نه راوباسئ. او کله چې يې دانيال رابهر کړو، نو
په هغۀ يو زخم هم نۀ وو، ځکه چې د هغۀ په خپل خُدائ پاک
باور وو. ۲۴ بيا د بادشاه په حکم، هغه سړی راوستلے شول
چا چې په دانيال د بد نيت نه اِلزام لګولے وو او د زمرو په
غار کښې يې د ښځو او بچو سره وروغورزول. د غار بيخ ته
د رسېدو نه وړاندې زمرو په هغوئ حمله وکړه او هډوکی يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورله ټوټه ټوټه کړل. (۲۵) نو بيا په ټول مُلک کښې داريوس
بادشاه ټولو خلقو، قومونو، او د دُنيا د هرې ژبې ويوونکو ته
دا وليکل، "په تاسو دې سلامتيا او برکت وى. (۲۶) زۀ د
خپلې بادشاهۍ په هر ځائ کښې خلقو ته دا فرمان جارى
کوم چې تاسو ټول د دانيال د خُدائ نه يرېږئ او د هغۀ عزت
کوئ. ځکه چې هغه ژوندے خُدائ پاک دے، او همېشه پاتې
کېدونکے دے، د هغۀ بادشاهى به هيڅکله نۀ تباه کيږى، او د
هغۀ بادشاهى به کله هم نۀ ختميږى. (۲۷) هغه بچ کوونکے او
ساتونکے دے، هغه په آسمان او زمکه کښې نښې او عجائب
څرګندوى. هغۀ دانيال د زمرو د پنجو نه بچ کړو." (۲۸) نو
دانيال د داريوس بادشاه په حکومت کښې او د فارس د
بادشاه خورس په حکومت کښې ډېر مخکښې شو.

## د حضرت دانيال رويا د څلورو ځناورو په حقله

۷ (۱) د بابل د بادشاه بيلشضر د بادشاهۍ په اول کال،
دانيال چې کله په خپل کټ کښې پروت وو نو هغۀ خوب
وليدو او په خوب کښې د هغۀ په خيالونو کښې يوه رويا
راغله. هغۀ هغه څۀ وليکل کوم چې هغۀ په خوب کښې
وليدل. (۲) دانيال وفرمائيل چې، "په هغه شپه ما په رويا
کښې وليدل چې هلته زما په وړاندې د آسمان هواګانې د
څلورو خواو نه د سمندر په مخ په تېزه لګېدلې. (۳) نو څلور
غټ ځناور، چې د يو بل نه مختلف وُو، د سمندر نه بهر
راووتل. (۴) اولنے د زمرى په شان وو، او د باز غوندې
وزرې يې وې. ما تر هغې پورې ورته کتل ترڅو چې يې وزرې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرې کړے شوې او ودرولے شو او بیا دا لکه د انسان په
شان په زمکه په دوو پښو ودرېدلو، او انسانی سوچ ورته
ورکړے شو. ۵ نو بیا زما په وړاندې ما دویم ځناور ولیدو،
کوم چې د مېلو په شان ښکارېدو. دا په خپل یو طرف باندې
اوچت کړے شو، او دهٔ درې پښتۍ په خپله خولهٔ کښې د
غاښونو په مینځ کښې نیولې وې. هغهٔ ته وئیل کېدهٔ، پاڅه او
په غوښو ځان موړ کړه. ۶ د دې نه وروستو، ما یو بل
ځناور ولیدو، هغه لکه د پړانګ په شان وو. او د دهٔ په شا لکه
د مارغهٔ په شان څلور وزرې وې. د دې ځناور څلور سرونه
وُو، او دهٔ ته یې د حکومت کولو اختیار ورکړے وو. ۷ د
دې نه وروستو د شپې ما په خپله رویا کښې څلورم ځناور
ولیدو چې خطرناک او یروونکے او ډېر طاقتور وو. د
اوسپنې غټ غاښونه یې وُو او خپل ښکار به یې په هغې ریچې
ریچې کړو او تیر به یې کړو او څهٔ به چې ترې نه پاتې شو نو
هغه به یې د خپلو پښو لاندې کړو. هغه د نورو ټولو ځناورو نه
کوم چې مخکښې وُو مختلف وو، او د هغهٔ لس ښکرونه وُو.
۸ کله چې ما د هغهٔ د ښکرونو په حقله سوچ کولو، نو هلته
زما د وړاندې یو بل ورکوټے ښکر د هغوئ په مینځ کښې
ښکاره شو، او درې وړومبی ښکرونه د هغهٔ په وړاندې
راوویستلے شول. د هغه ښکر لکه د انسان د سترګو په شان
سترګې وې او په خولهٔ باندې یې په بېپرواهۍ سره لافې
کولې.

## د هغه ذات رویا چې همېشه ژوندے دے

۹ کله چې ما ورته کتل نو تختونه په خپل ځائ باندې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولګولے شُو، او ازلی ذات په خپل تخت کښېناستو. د هغهٔ
جامې لکه د واورې په شان سپينې وې، او د هغهٔ د سر
وېښتهٔ لکه د سپينې وړۍ په شان وُو. او هغه د اور په تخت
باندې کښېناستو او د پايو نه يې د اور شُغلې ختلې. ١٠ او د
هغهٔ د حضور نه د اور درياب راوتلو او د هغهٔ په وړاندې
روان وو. په زرګونو زرګونو د هغهٔ خِدمت له راغلل، او په
لکونو هستيانې د هغهٔ په وړاندې ودرېدلې. بيا د عدالت دپاره
دربار کولاو شو، او کتابونه کولاو کړے شول. ١١ ورته مې
هم هغه شان کتل ځکه چې هغه ورکوټے ښکر د کبر نه ډکې
خبرې کولې. تر هغې پورې مې ورته کتل چې هغه څلورم
ځناور مړ کړے شو او د دهٔ لاش تباه او بَل شوی اور ته
وغورزولے شو. ١٢ د هغه نورو درېو واړو ځناورو نه
قدرت واخستلے شو، خو هغوئ ته د لږ وخت دپاره د
ژوندی پاتې کېدلو اجازت مِلاو شو. ١٣ نو په هم هغه شپه
کښې ما په خپله رويا کښې وليدل، چې هلته زما په وړاندې يو
کس لکه د اِبن آدم په شان وو، چې د آسمان د ورېځو سره
راروان وو. او هغه ازلی ذات ته وروړسېدو او د هغهٔ حضور
ته حاضر کړے شو. ١٤ هغهٔ ته اختيار، جلال او شاهی
طاقت ورکړے شو، د ټولو قومونو، ذاتونو او ژبو خلقو د
هغهٔ عبادت وکړو. د هغهٔ بادشاهی ابدی او نهٔ ختمېدونکې ده،
د هغهٔ بادشاهی به هيڅ کله تباه نهٔ شی.

## د دانيال د خوب تعبير

١٥ زهٔ دانيال، د هغه هر څهٔ په حقله پرېشانه وم څهٔ چې ما
ليدلی وُو، او زما رويا زهٔ وېرولم. ١٦ نو بيا زهٔ هغه ولاړو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کسانو ته چې هلته تخت سره نزدې وُو يو له ورغلم او تپوس
مې ترې نه وکړو چې د دې هر څۀ مطلب څۀ دے. نو هغۀ ما
ته د دې تعبير څۀ داسې وکړو، ۱۷ دا څلور ځناور څلور
بادشاهۍ دی چې د زمکې نه به راوچتې شی. ۱۸ خو په آخر
کښې به د خُدائ تعالىٰ مقدسو خلقو ته بادشاهی مِلاو شی، او
هغوئ به په هغې باندې تر ابده پورې بادشاهی کوی. ۱۹ نو
بيا ما غوښتل چې د څلورم ځناور په حقله صحيح مطلب
باندې ځان پوهه کړم، کوم چې د نورو ټولو نه مختلف او
يرووونکے وو. او غاښونه يې د اوسپنې او د پښو پنجې يې د
زېړو وې، هغه ځناور چې خپل ښکارونه يې ريچې ريچې کړل
او تير يې کړل او څۀ چې ترې نه پاتې شول هغه يې د پښو
لاندې کړل. ۲۰ ما هم غوښتل چې د هغۀ په سر د هغه لسو
ښکرونو په حقله معلومات حاصل کړم، د هغه بل ښکر په
حقله کوم چې راوختلو، د کوم د راختلو نه مخکښې چې هغه
درې وغورزېدل، هغه ښکر چې د نورو نه بيا غټ ښکارېدو او
چې سترګې يې د انسان په شان وې، او د دې خولې د کبر
خبرې کولې. ۲۱ کله چې ما دا هر څۀ کتل، نو دې ښکر د
مقدسينو خلاف جنګ وکړو او هغوئ ته يې شکست ورکولو،
۲۲ ترڅو چې هغه ازلی ذات راغلو او د خُدائ تعالىٰ د
مقدسينو په حق کښې يې د عدالت اعلان وکړو. او بيا هغه
وخت راغلو چې هغوئ ته بادشاهی مِلاو شوه. ۲۳ نو بيا
هغۀ ما ته ووئيل چې، دا څلورم ځناور هغه د دُنيا څلورمه
بادشاهی ده کومه چې به په زمکه راښکاره شی. دا به د نورو
ټولو بادشاهتونو نه مختلفه وی او دا به ټوله زمکه تيره کړی،
او د پښو لاندې او ريچې ريچې به يې کړی. ۲۴ هغه لس
ښکرونه لس بادشاهان دی څوک چې به د دې بادشاهۍ نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راشي. د دوئ نه وروستو به يو بل بادشاه پېدا شي، هغه به د
مخکښېنو نه مختلف وی، هغه به درې بادشاهان ختم کړی.
٢٥ هغه به د خُدائ تعالىٰ خلاف خبرې کوی او د هغۀ په
مقدسينو به ظلم وکړی، شريعت او د اخترونو مقرر وخت د
بدلولو کوشش به وکړی. مقدسين به هغۀ ته د درې نيمو کالو
دپاره حواله شی. ٢٦ خو بيا به د هغۀ خلاف عدالت شروع
شی، او د هغۀ نه به حکومت واخستلے شی او هغه به هم په
مکمل توګه تباه شی. ٢٧ نو بيا به د آسمان لاندې د ټولو
بادشاهتونو حکومت، طاقت او لوئی هغه ايماندارانو ته حواله
شی چې د خُدائ تعالىٰ خلق دی. د هغۀ بادشاهی به ابدی
وی، او ټول حکمرانان به د هغۀ عبادت او تابعداری وکړی.
٢٨ دا خبره دلته ختمه شوه. زۀ دانيال په خپلو خيالونو
کښې پرېشانه وم او زما مخ د يرې نه تک زېړ وو، خو دا
خبره ما خپل ځان سره محفوظه وساتله.“

## د حضرت دانيال د ګډ او چېلی رويا

٨ ١ د بيلشضر بادشاه د بادشاهۍ په درېم کال، ما دانيال
بله رويا وليده، د هغې رويا نه وروستو کومه چې ما مخکښې
ليدلې وه. ٢ په رويا کښې ما خپل ځان د سوسه قلعه په
خوا کښې د عيلام په صوبه کښې د اولائی نِهر په غاړه ولاړ
وليدلو. ٣ ما وکتل چې هلته زما د وړاندې يو د دوو ښکرو
والا ګډ د نِهر په غاړه ولاړ وو، او ښکرونه يې اوږدۀ وُو. او يو
ښکر يې د بل نه اوږد وو خو دا وروستو لوئ شوے وو. ٤
نو ما وليدل چې هغه ګډ د مغرب او شمال او جنوب طرف
ته يې ښکرونه وهل. او يو ځناور هم د هغۀ مقابله نۀ شوه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولے، او هیڅ څوک هم د هغهٔ د زور نه خلاصولے نهٔ شُو.
څهٔ چې يې زړهٔ غوښتل هغه يې کول، هغه ډېر طاقتور شو.
۵ کله چې ما د دې په حقله سوچ کولو، نو ناڅاپه يو
چېلے چې د سترګو په مينځ کښې يې مضبوط ښکر وو د
مشرق طرف نه راغلو، هغه زمکې سره د لګېدو نه بغېر د
ټولې دُنيا نه راواوړېدو. ۶ هغه د هغه دوو ښکرو والا ګډ له
کوم چې ما د نِهر په غاړه ليدلے وو په تېزه او غصه ورغلو.
۷ ما هغه وليدو چې په هغه ګډ يې په ډېرې غصې سره
حمله وکړه، هغه ګډ يې لاندې راوغورزولو او د هغهٔ دواړه
ښکرونه يې ټوټه ټوټه کړل. د هغهٔ په نسبت هغه ډېر کمزورے
وو چې د هغهٔ مقابله يې کړے وے، چېلی هغه لاندې په زمکه
راوغورزولو او د پښو لاندې يې کړو، او چا هم هغه ګډ د هغهٔ
د زور نه بچ کولے نهٔ شو. ۸ چېلے ډېر زورَور شو، خو د
خپل طاقت آخری حد ته په رسېدلو باندې د هغهٔ لوئ ښکر
مات شو، او د دې په ځائ څلور اوچت ښکرونه راوختل چې
مخ يې د زمکې څلورو خواو ته وو. ۹ په هغې کښې د يو
ښکر نه بل راووتلو، چې په شروع کښې ورکوټے وو خو هغه
د جنوب او مشرق طرف ته او د اِسرائيل د ښائسته مُلک
طرف ته اوږد او طاقتور شو. ۱۰ دا دومره غټ شو چې
آسمانی لښکرو ته ورسېدو، او هغهٔ څهٔ آسمانی لښکر او
ستوری لاندې راوغورزول او د پښو لاندې يې کړل. ۱۱ هغهٔ
خپل ځان د آسمانی لښکرو د شهزاده په شان دومره اوچت
وګڼلو، او هغهٔ ته د روزانه قربانئ پېش کول يې ختم کړل او د
مالِک خُدائ کور يې پليت کړو. ۱۲ ځکه د سرکشئ په
وجه، آسمانی لښکرې او روزمره قربانی د ښکر قدرت ته
ورکړے شُو. او هغه د هر کار په کولو کښې کامياب شو او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حقيقت زمکې ته وغورزولے شو. ١٣ نو بيا ما واورېدل چې
يوې مقدسې فرښتې خبرې کولې او بلې مقدسې فرښتې ورته
وفرمائيل چې، ”دا کارونه به ترڅو پورې جارى وى کوم چې
په رويا کښې وليدلے شُو؟ ترڅو پورې به دا ګناه د روزمره
قربانۍ په بدله کښې کيږى؟ ترڅو پورې به آسمانى لښکرې او
د مالِک خُدائ کور د پښو لاندې کيږى؟“ ١٤ بيا فرښتې ما
ته وفرمائيل، ”دا به تر دوه زره او درې سوه ماښامونو او
سحرونو پورې وخت واخلى، او د هغې نه وروستو به د
مالِک خُدائ کور دوباره مقدس کړے شى.“

## حضرت جبرائيل د حضرت دانيال د رويا تعبيرول

١٥ کله چې ما دانيال دا رويا کتله او په دې د پوهېدلو
کوشش مې کولو، نو زما په وړاندې څوک ودرېدو چې لکه د
انسان غوندې ښکارېدو. ١٦ او ما د اولائى نِهر د غاړې نه د
يو سړى آواز واورېدو چې وې فرمائيل، ”اے جبرائيله، دې
سړى ته د دې رويا مطلب ووايه.“ ١٧ کله چې هغه ما ته
نزدې راغلو چرته چې زۀ ولاړ وم، نو زۀ ووېرېدلم او پړمخې
په زمکه پرېوتلم. هغۀ ما ته وفرمائيل، ”اے بنى آدمه، په دې
پوهه شه چې د دې رويا تعلق د آخرى زمانې سره دے.“ ١٨
کله چې هغۀ ما ته خبرې کولې، زۀ بېهوشه وم، په زمکه
پړمخې پروت وم. بيا هغۀ زۀ ونيولم او په خپلو پښو يې
ودرولم. ١٩ بيا هغۀ ما ته وفرمائيل، ”زۀ د دې دپاره راغلم
چې تا ته ووايم چې وروستو د غضب په وخت کښې به څۀ
وشى، ځکه چې د دې رويا تعلق د آخرى زمانې سره دے.
٢٠ کوم د دوو ښکرو ګډ چې تا وليدو دا د مادى او فارس د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاهانو نمائندګی کوی. ۲۱ دا وېښتو والا چېلے د یونان
بادشاه دے، او هغه د سترګو په مینځ کښې لوئ ښکر اولنے
بادشاه دے. ۲۲ هغه څلور ښکرونه کوم چې د هغهٔ يو مات
شوی ښکر په ځائ راوتلو د دې مطلب دا دے چې د اول
بادشاهۍ نه به څلور نورې بادشاهۍ جوړې شی خو يو به هم
دومره زور طاقت نهٔ لری. ۲۳ د دوئ د بادشاهۍ په آخری
ورځو کښې کله چې د دې سرکشی او بدکاری آخری حد ته
ورسيږی، نو يو ظالم او ماهر مکار بادشاه به راوچت شی.
۲۴ هغه به ډېر طاقتور شی، خو دا به د دهٔ خپل طاقت نهٔ
وی. هغه به د حېرانونکی تباهۍ سبب شی او څهٔ چې هغه
کوی په هغې کښې به کامياب شی. هغه به زورَور خلق او د
ايماندارانو قوم تباه کړی. ۲۵ د دوکې په سبب به هغه
کامياب شی، او هغه به خپل ځان اوچت وګڼی. کله چې
هغوئ ځان محفوظ وګڼی، هغه به ناګهانه ډېر خلق تباه کړی
او د شهزادګانو د شهزاده خلاف به راپاڅی. خو بيا به هغه
تباه شی، خو دا نه چې د انسان په طاقت. ۲۶ د ماښامونو
او سحرونو د قربانيانو کومه رويا چې تا ته ښودلے شوې ده
هغه حقيقی ده، خو دا رويا پټه وساته، ځکه چې دا د ډېر لرې
مستقبل په حقله ده.“ ۲۷ زهٔ دانيال، ډېرې ورځې خفه او
بيمار وم. بيا زهٔ پاڅېدم او د بادشاه کارونو له واپس لاړم. زهٔ
د دې رويا په وجه خفه وم، دا د پوهې نه بهر وه.

## د خپلو خلقو دپاره د حضرت دانيال دُعا

۹ ۱ د مادی د اخسويرس د زوئ داريوس د بادشاهۍ په
اول کال څوک چې د بابليانو بادشاه جوړ شو، ۲ د هغهٔ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاهۍ په اول کال، زۀ دانیال د مقدسو صحیفو نه پوهه
شوم، د مالِک خُدائ د هغه کلام په مطابق چې هغۀ یرمیاه
نبی له ورکړے وو، چې یروشلم به د اویا کاله پورې وران
وی. ۳ نو بیا زۀ مالِک خُدائ ته راوګرځېدم او هغۀ ته مې
مِنت زاری وکړه او روژه مې ونیوله، او ما د ټاټ جامې
واغوستلې او په خپل ځان مې ایره ونوستله. ۴ ما خپل
مالِک خُدائ نه دُعا وغوښتله او اقرار مې وکړو، "اے مالِکه،
تهٔ لوئ او حیرانونکے خُدائ یې، څوک چې د خپلې مینې
وعده د هغوئ سره قائمه ساتی څوک چې تا سره مینه کوی
او ستا حُکمونه منی، ۵ مونږ ګناه کړې ده او غلط کارونه
مو کړی دی. مونږ بدعملی کړې ده او سرکشی مو کړې ده،
مونږ ستا د احکاماتو او شریعت نه مخ اړولے دے. ۶
مونږ ستا خِدمت کوونکو پېغمبرانو ته غوږ ونهٔ نیولو، چا چې
ستا په نوم زمونږ بادشاهانو، زمونږ شهزادګانو او پلار
نیکونو، او زمونږ د مُلک ټولو خلقو ته خبرې وکړې. ۷
مالِکه، تهٔ صادق یې، خو نن ورځ مونږ د یهوداه او یروشلم او
د ټول بنی اِسرائیل خلق، نزدې او لرې شرمنده یو، په هغه
ټولو مُلکونو کښې چرته چې تا مونږ د خپلو غداری په وجه
خوارهٔ کړی یُو. ۸ اے مالِکه خُدایه، مونږ او زمونږ
بادشاهان، زمونږ شهزادګان او زمونږ پلار نیکونه په شرمونو
شرمنده یُو ځکه چې مونږ ستا خلاف ګناه کړې ده. ۹ خو
مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک مهربانه او بخښونکے دے،
اګر چې مونږ د هغۀ خلاف بغاوت کړے دے، ۱۰ مونږ د
خپل مالِک خُدائ تابعداری نهٔ ده کړې او د هغۀ هغه حُکمونه
مو نهٔ دی منلی کوم چې هغۀ مونږ ته د خپل خِدمت کوونکو
پېغمبرانو په ذریعه راکړل. ۱۱ ټولو بنی اِسرائیلو ستا د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شریعت خلاف ورزی کړې ده، مخ يې ترې نه اړولے دے او
ستا د منلو نه يې اِنکار کړے دے. نو په دې وجه هغه لعنتونه
او قسم خوړلے شوی افتونه چې د خُدائ پاک د خِدمت
کوونکی موسیٰ په شریعت کښې لیکلے شوی دی په مونږ
نازل شول، ځکه چې مونږ ستا خلاف ګناه کړې ده. ۱۲ تا
په مونږ د افت راوستلو په ذریعه څۀ چې دې زمونږ د
بادشاهانو په خلاف فرمائیلی وُو هغه دې پوره کړل. د آسمان
د لاندې هیڅکله هم داسې افتونه نۀ دی راغلی لکه څنګه چې
په یروشلم راغلل. ۱۳ څنګه چې د موسیٰ په شریعت کښې
لیکلے شوی دی، هغه ټول افتونه په مونږ نازل شوی دی، بیا
اوس هم مونږ د خپل مالِک خُدائ د رضا حاصلولو دپاره د
خپلو ګناهونو نه اوړېدلی نۀ یُو او نۀ مو ستا په حقیقت غور
کړے دے. ۱۴ نو مالِک خُدائ هم په مونږ د افت راوستلو
څۀ پرواه ونۀ کړه، ځکه چې زمونږ مالِک خُدائ په خپلو ټولو
کارونو کښې صادق دے، خو بیا هم مونږ د هغۀ تابعداری
ونۀ کړه. ۱۵ اوس اے مالِکه زمونږ خُدایه، تا چا چې خپل
خلق د مِصر نه په خپل زورَور لاس راوویستل او خپل نوم له
دې عزت او جلال ورکړو چې تر ننه قائم دے، د دې باوجود
هم مونږ ګناه وکړه، مونږ بدکارونه وکړل. ۱۶ اے مالِکه، په
خپلو کارونو کښې تۀ صادق یې، نو په دې وجه تۀ خپله
سخته غصه او غضب د خپل ښار یروشلم، ستا مقدس غر
نه لرې کړه. زمونږ ګناهونو او زمونږ د پلار نیکونو ګناهونو
یروشلم او ستا خلق د ګېرچاپېره قومونو د خندا کړل. ۱۷
نو اوس اے مالِکه خُدایه، د خپل خِدمت کوونکی زما دُعا او
زارۍ ته غوږ ونیسه. اے مالِکه خُدایه د خپل نوم په خاطر
خپل تباه شوی پاک کور ته د رحم په نظر وګوره. ۱۸ اے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدايه، غوږ ونيسه او واوره، خپلې سترګې کولاو کړه او هغه
کنډر شوې ښار وګوره چې ستا په نوم پورې تړلے شوے
دے. مونږ تا ته سوال زارى د دې دپاره نۀ کوُو چې مونږ
صادقان يُو، خو ځکه چې تۀ ډېر مهربانه يې. ۱۹ اے مالِکه
واوره، اے خُدايه مونږ معاف کړه. اے مالِکه زمونږ واوره او
عمل پرې وکړه. اے زما خُدايه د خپل ځان د خاطره دې مۀ
ايسارېږه، ځکه چې ستا ښار او ستا قوم ستا په نوم پورې
تړلے شوى دى.“

## د حضرت جبرائيل پېغام د مسح کړے شوى په حقله

۲۰ نو چې کله ما خبرې او دُعا کوله او د خپلې ګناه او زما
د قوم د بنى اِسرائيلو د ګناه اقرار مې کولو او خپل مالِک
خُدائ ته مې د هغۀ د مقدس غر دپاره زارى کوله، ۲۱ ما لا
دُعا کوله چې جبرائيل، هغه سړے چې ما مخکښې په رويا
کښې ليدلے وو ما له په تېزئ سره راغلو، د ماښام د قربانۍ
وخت وو. ۲۲ هغۀ زۀ پوهه کړم او ما ته يې وفرمائيل، ”اے
دانياله، زۀ اوس راغلم چې تا له پوهه او حکمت درکړم. ۲۳
څنګه چې تا دُعا شروع کړه نو هغې ته جواب ورکړے شو،
زۀ د هغې وئيلو دپاره تا له راغلم ځکه چې تۀ ډېر قدرمند يې.
په دې وجه دې پېغام ته په خيال سره غوږ شه او په رويا
ځان پوهه کړه. ۲۴ اويا وارې اووۀ کاله ستا قوم او ستا
مقدس ښار دپاره مقرر شوى دى چې په کښې خپله سرکشى
ختمه کړئ، او ګناه بنده کړئ، د بدعملۍ کفاره ورکړئ، نۀ
ختمېدونکے صداقت قائم کړئ، د پېغمبرى رويا او پېشګوئي

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تصدیق وکړئ او چې د ټولو نه مقدس ځائ مسح کړئ. ۲۵
په دې غور وکړئ او ځان پرې پوهه کړئ. دوه شپېتهٔ وارې
اووهٔ کاله به تیر شی د کوم وخت نه چې د یروشلم د بیا
جوړولو حُکم ورکړے شوے دے ترڅو چې مالِک خُدائ
مسح کړے شوے بادشاه راشی. یروشلم به سره د کوڅو او
حِفاظتی خندقونو جوړ کړے شی، خو کهٔ څهٔ هم چې په
یرووِنکی وخت کښې وی. ۲۶ د دې دوه شپېتهٔ وارې اووهٔ
کاله نه وروستو به مسح کړے شوے کس قتل کړے شی او
هغهٔ سره به څهٔ نهٔ وی. نو په هغه وخت کښې به بیا بل
حکمران راوچت شی د چا لښکرې به چې دا ښار او د خُدائ
کور تباه کړی. د دې خاتمه به لکه د سېلاب راشی، او د
جنګ او د هغې بدبختی به د آخر پورې جاری وی، او د هغې
تباهئ حکم جاری شوے دے. ۲۷ هغه حکمران به د اووهٔ
کالو دپاره د ډېرو خلقو سره لوظ وکړی او د دې وخت په
نیمه کښې به هغه قربانئ او نذرانې ختمې کړی. او د مالِک
خُدائ د کور په اوچت ځائ به یو داسې ناپاکه بُت کیښږدی
چې تباهی به راولی. او تر هغې پورې به هلته وی ترڅو چې
خُدائ پاک هغه خپل اَنجام ته ورسوی کوم چې ورته هغهٔ
مقرر کړے دے."

## د دجله سیند په غاړه د حضرت دانیال رویا

۱۰ ۱ د فارس د بادشاه خورس د بادشاهئ په دریم کال
ما دانیال ته چې راته بیلطشضر هم وئیل کېدو یوه رویا
راکړے شوه. د دې پېغام حقیقت وو او دا د یو لوئ جنګ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حقله وه. د رویا په وسیله زهٔ په دې پېغام پوهه شوم. ۲
کله چې دا رویا ما ولیده نو په هغه وخت کښې ما دانیال د
درې هفتو نه ماتم کولو. ۳ ما نهٔ ښهٔ خوراک کړے وو، نهٔ
مې غوښه او نهٔ مې مے خپلو شونډو ته نزدې کړې وُو، او ما
د درېو هفتو د تېرېدو پورې د سر تېل هم استعمال کړې نهٔ
وو. ۴ د وړومبۍ میاشتې په څلیریشتمه ورځ، کله چې زهٔ د
دجله د لوئ سیند په غاړه ولاړ وم، ۵ هر کله چې ما بره
وکتل نو ځان ته مخامخ مې یو سړے ولیدو چې د سپین
کتان جامې یې اغوستې وې، او د ملا نه یې د سوچه سرو
زرو ملابند تړلے وو. ۶ د هغهٔ بدن د ایکوامرین کاڼی په
شان وو، د هغهٔ مخ لکه د برېښنا په شان ځلېدو، د هغهٔ
سترګې لکه د مشعلونو په شان بلېدلې، د هغهٔ لاسونه او پښې
لکه د زېړو په شان ځلېدل، او د هغهٔ آواز لکه د لوئ ګڼې د
شور په شان وو. ۷ صرف ما دانیال، دا رویا ولیده، ما
سره نورو سړو دا ونهٔ لیده، خو بیا هم هغوئ داسې وحشت
واخستل چې وتښتېدل او ځانونه یې پټ کړل. ۸ نو زهٔ
یواځې پاتې شوم چې دا عظیمه رویا وګورم. په ما کښې
طاقت پاتې نهٔ شو، زما رنګ د مړی په شان تک زېړ شو او
بېدمه شوم. ۹ نو بیا ما واورېدل چې هغهٔ خبرې کولې، او
څنګه چې ما هغهٔ ته غوږ ونیولو، زهٔ بېهوشه شوم، په زمکه
پړمخې پرېوتلم. ۱۰ بیا یو لاس زهٔ راونیولم او په خپل ځائ
یې په لړزېدو سره په ګوډو کړم. ۱۱ هغهٔ وفرمائیل، ”اے
دانیاله، تهٔ خُدائ پاک ته ډېر ګران یې، کومې خبرې چې زهٔ تا
ته کوم هغې ته غوږ ونیسه، او پاڅه ودرېږه، ځکه چې زهٔ تا
له رالیږلے شوے یم.“ او کله چې هغهٔ ما ته دا وفرمائیل، نو
زهٔ په لړزېدو سره ودرېدلم. ۱۲ بیا هغهٔ خبره جاری وساتله،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”اے دانیاله مهٔ یرېږه. د وړومبۍ ورځې نه کله چې تا خپل
سوچ دې ته تیار کړو چې پوهه حاصله کړې او د خُدائ پاک
په وړاندې دې خپل ځان عاجز کړو، نو ستا دُعا قبوله شوه،
او زهٔ د هغې په جواب کښې راغلے یم. ۱۳ خو د فارس
سلطنت روحانی شهزاده تر یوویشت ورځو پورې زما مخه
ونیوله. بیا میکائیل چې د فرښتو سردار دے، زما مدد کولو
له راغلو ځکه چې زهٔ د فارس بادشاه سره ګېر شوے وم.
۱۴ زهٔ اوس راغلے یم چې تاسو ته دا تشریح کړم چې په
راتلونکی وخت کښې به ستا خلقو سره څهٔ کیږی، ځکه چې
د دې رویا تعلق د راتلونکی وخت سره دے.“ ۱۵ کله چې
هغهٔ ما ته دا خبرې کولې نو ما لاندې زمکې ته کتل او ګونګا
شوے وم. ۱۶ نو بیا یو لکه د انسان په شان ښکارېدو هغهٔ
زما شونډې مسح کړې، او ما خپله خوله کولاو کړه او خبرې
مې شروع کړې. ما هغه چا ته څوک چې زما په وړاندې ولاړ
وو وئیل، ”مالِکه، زهٔ د دې رویا په وجه اندېښنو راګېر کړے
یم او په ما کښې زور ختم شوے دے. ۱۷ زهٔ ستا نوکر
څنګه تا سره خبرې وکړم، اے زما مالِکه؟ زما زور ختم
شوے دے او ساه مې ځی راځی.“ ۱۸ نو هغه څوک چې د
بنی آدم په شان ښکارېدو زهٔ یې بیا مسح کړم او ما له یې
طاقت راکړو. ۱۹ هغهٔ وفرمائیل، ”اے خُدائ پاک ته، ګران
انسانه مهٔ یرېږه. سلامت اوسه. اوس ډاډه شه، ډاډه شه.“ کله
چې هغهٔ ما سره خبرې وکړې، ما ته طاقت مِلاو شو او ورته
ومې ووئیل، ”اے مالِکه اوس خبره وکړه، ځکه چې تا ما له
طاقت راکړے دے.“ ۲۰ نو بیا هغهٔ وفرمائیل چې، ”تا ته پته
ده چې زهٔ ولې تا له راغلے یم؟ زهٔ به زر د فارس د شهزاده
خلاف جنګ له واپس لاړ شم، او څنګه چې زهٔ لاړ شم، د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یونان شهزاده به راشی، ۲۱ خو زهٔ به اول تا ته هغه څهٔ
ووایم چې څهٔ د حقیقت په کِتاب کښې لیکلے شوی دی. د
دوئ خلاف هیڅ څوک هم زما مدد نهٔ کوی بغیر د میکائیل
ستاسو د شهزاده نه.

۱۱ ۱ او د داریوس میدی د بادشاهۍ په اول کال، زهٔ
ودریدلم چې هغه مضبوط او تکړه کړم. ۲ نو بیا اوس، زهٔ
تاسو ته رښتیا وایم.

## د قومونو په خپلو کښې جنګونه

په فارس کښې به نور درې بادشاهان راوچت شی، او بیا به
څلورم بادشاه راشی، څوک چې به د هغوئ ټولو نه زیات
مالداره وی. هغهٔ د خپل دولت په ذریعه طاقت حاصل کړے
دے، نو هغه به هر څوک د یونان د حکومت په خلاف
راوچت کړی. ۳ نو بیا به یو زورَور بادشاه راشی او هغه به
په لوئ اختیار سره بادشاهی کوی او هر څهٔ چې یې زړهٔ
غواړی هغه به وکړی. ۴ خو د هغهٔ د ښکاره کیدو نه
وروستو به د هغهٔ بادشاهی ټوکړې ټوکړې شی، او دا به په
څلورو حِصو تقسیم شی. دا به د دهٔ اولاد ته پاتې نهٔ شی، او
نهٔ به بیا هغه داسې طاقتوره وی لکه څنګه چې اول وه، ځکه
د دهٔ بادشاهی به د بیخ نه ختمه شی او نورو ته به حواله
کړے شی. ۵ د جنوب بادشاه به مضبوط شی، خو د هغهٔ
یو آفسر به د هغهٔ نه زیات مضبوط شی او هغه به د هغهٔ نه په
زیات طاقت سره په خپلو خلقو حکومت کوی. ۶ څو کاله
پس به د جنوب او د شمال بادشاه په خپلو کښې اِتحاد جوړ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړی. د جنوب د بادشاه لور به د شمال بادشاه ته د اِتحاد
جوړولو دپاره وادهٔ کړے شی، خو هغه به په خپل خاوند اثر
رسوخ ونهٔ ساتلے شی هغه او د هغې اثر رسوخ به ختم شی.
نو هغه به بیا سره د خپل پلار او شاهی خِدمت کوونکو
ووژلے شی. ۷ نو بیا به د هغې د خاندان نه یو کس
راوچت شی چې د هغې ځائ ونیسی. او هغه به د شمال د
بادشاه په فوج حمله وکړی او هغه قلعه ګانو ته به ننوځی،
هغه به د هغوئ خلاف جنګ وکړی او کامیاب به شی. ۸
هغه به د هغوئ معبودان، د هغوئ د پیتلو بُتان او د هغوئ
قیمتی د سپینو او سرو زرو سامان قبضه کړی او ځان سره
به یې مِصر ته یوسی. او د څو کالو پورې به هغه د شمال په
بادشاه حمله ونهٔ کړی. ۹ بیا به د شمال بادشاه د جنوب د
بادشاه په سلطنت حمله وکړی خو هغه به واپس شی او خپل
مُلک ته به لاړ شی. ۱۰ د هغهٔ زامن به د جنګ دپاره تیار
شی او یو لوئ لښکر به جوړ کړی، دا به لکه د سېلاب
غوندې وی او جنګ به د هغهٔ قلعه ګانو ته ورورسوی. ۱۱
بیا به د جنوب بادشاه په غصه کښې راوځی او د شمال د
بادشاه په خلاف به جنګ وکړی، څوک چې به لوئ لښکر
تیار کړی خو هغوئ به هم شکست وخوری. ۱۲ کله چې
فوج تباه شی نو د جنوب بادشاه کښې به غرور راشی او هغه
به په زرګونو خلق مړهٔ کړی، خو هغه به د ډېر وخت پورې
کامیاب نهٔ شی. ۱۳ ځکه چې د شمال بادشاه به بل لښکر
راغونډ کړی، د وړومبی لښکر نه به غټ وی، او یو څو کاله
پس به هغه د یو لوئ لښکر سره په هر قسمه وسلو سمبال
راشی. ۱۴ په هغه وخت کښې به ډېر خلق د جنوب د بادشاه
خلاف راپاڅی. ستا د قوم پارېدلی خلق به د رویا په پوره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېدو کښې بغاوت وکړی، خو هغوئ به کامیاب نۀ شی. ۱۵
نو بیا به د شمال بادشاه راشی او قلعه بند ښار د قبضه کولو
دپاره به د خاورو ډېری جوړ کړی. د جنوب فوجیان به دوئ
ایسارولے نۀ شی، تر دې چې د ټولو نه ښۀ او زورَور فوجیان
به هم د هغوئ مقابله نۀ شی کولے. ۱۶ حمله کوونکے
بادشاه به هم هغه څۀ کوی څۀ چې یې زړۀ غواړی، څوک به
د هغۀ خلاف نۀ شی ودرېدلے. هغه به ځان په ښائسته مُلک
کښې آباد کړی او هغۀ سره به د هغې د تباه کولو اختیار وی.
۱۷ هغه به یوه منصوبه جوړه کړی چې د خپل ټول سلطنت
د زور سره راشی او هغه به د جنوب د بادشاه سره اِتحاد
وکړی. او خپله لور به هغۀ ته وادۀ کړی د دې دپاره چې
سلطنت تباه کړی، خو د هغۀ منصوبه به کامیابه نۀ شی او نۀ
به فائده ورکړی. ۱۸ هغه به ساحلی علاقې خوا ته خپله
توجو وګرځوی او په ډېرو علاقو به قبضه وکړی، خو د یو بل
مُلک فوجی کمانډر به د هغۀ ګستاخانه رویه ختمه کړی او په
شرمونو به یې وشرموی. ۱۹ د دې نه پس به هغه خپل مُلک
کښې خپلو قلعه ګانو ته واپس شی خو هغه به ټینډک وخوری
او ویه غورزیږی نو د هغۀ نام و نشان به پاتې نۀ شی. ۲۰ د
هغۀ په ځائ به بل بادشاه راشی هغه به محصُول اخستونکی
ولیږی چې شاهی شان و شوکت پرې وساتی. خو په لږو
ورځو کښې به هغه تباه شی، خو نۀ د غصې په وجه او نۀ د
جنګ په وجه.

## د شام یو بدعمله بادشاه

۲۱ د هغۀ په ځائ به یو بدعمله سړے بادشاه شی چې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاهۍ حق به ورته نۀ وی حاصل. هغه به ناګهانه راښکاره
شی، او په سلطنت به حمله وکړی، په چالاکۍ او ټګۍ سره به
بادشاهۍ قبضه کړی. ۲۲ د هغۀ په وړاندې به لوئ لښکر
جارُو شی، هغه او مشر اِمام به تباه شی. ۲۳ هغۀ سره د
لوظ کولو نه پس به هغه د هغوئ سره دوکه وکړی او د لږو
کسانو سره به هغه قدرت حاصل کړی. ۲۴ ناګهانه به
مالداره صوبې ونیسی نو هغه به په هغوئ حمله وکړی او هغه
هر څۀ به حاصل کړی چې د هغوئ پلار نیکۀ نۀ وو حاصل
کړی. هغه به غنیمت، لوټ شوے دولت په خپلو ملګرو کښې
تقسیم کړی. هغه به د قلعه ګانو د قبضه کولو منصوبې
جوړې کړی خو دا به د لږ وخت دپاره وی. ۲۵ د یو لوئ
لښکر سره به هغه زور ولګوی او په نرتوب به د جنوب
بادشاه په خلاف جنګ وکړی. د جنوب بادشاه به هم د خپل
لوئ او طاقتور لښکر سره جنګ وکړی، خو هغه به د شمال
د بادشاه په وړاندې د هغه منصوبو په وجه ونۀ دریږی کومې
یې چې د هغۀ په خلاف جوړې کړې دی. ۲۶ هغوئ څوک
چې د بادشاه روټۍ خوری هغوئ به د هغۀ د تباه کولو
کوشش وکړی، د هغۀ لښکر به ختم شی، او ډیر به په جنګ
کښې مړۀ کړے شی. ۲۷ نو دواړه بادشاهان به د شیطانۍ نه
ډکو زړونو سره په یو مېز کښېنی او یو بل ته به دروغ ووائی،
خو یو به هم کامیاب نۀ شی ځکه چې خاتمه به بیا هم په خپل
مقرر وخت راشی. ۲۸ د شمال بادشاه به ډیر دولت سره
خپل مُلک ته واپس شی، خو د هغۀ زړۀ به د مقدس لوظ
خلاف شی. هغه به دې ته نقصان ورسوی او بیا به خپل مُلک
ته واپس لاړ شی. ۲۹ په مقرر وخت به هغه بیا په جنوبی
مُلک حمله وکړی، خو دې ځل به یې نتیجه د مخکښې نه بدله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وی. ۳۰ د مغربی سمندر د غاړې کشتئ به د هغهٔ مخالف
راشی، او هغه به زړهٔ بائیلی. بیا به هغه واپس شی او خپله
غصه به د مقدس لوظ په خلقو وباسی. هغه به واپس شی او
په هغوئ به مهربان شی څوک چې مقدس لوظ هېروی. ۳۱
د هغهٔ لښکر به راشی چې د عبادتګاه بې‌حرمتی وکړی او
روزانه قربانئ به بندې کړی. هغوئ به هلته هغه ناپاکه بُت
ودروی کوم چې به تباهی راولی. ۳۲ بادشاه به په غوړو
خبرو سره هغوئ دوکه کړی چا چې لوظ مات کړے دے،
خو کوم خلق چې خپل خُدائ پاک پېژنی هغوئ به زورَور
وی او د هغهٔ مقابله به وکړی. ۳۳ څوک چې هوښیار دی
هغوئ به ډېرو ته صحیح تعلیم ورکړی، خو د څهٔ وخت دپاره
به هغوئ په تُوره قتل کړے شی یا به وسوزولے شی یا به قېد
کړے شی او یا به لوټ کړے شی. ۳۴ کله چې هغوئ
راپرېوځی ورته به صرف لږ مدد مِلاو شی، او ډېر چې
مخلص نهٔ دی ورسره به ملګری شی. ۳۵ څهٔ هوښیاران به
قتل کړے شی، د دې دپاره چې د آخر وخت پورې صفا،
خالص او بې‌داغه کړے شی ځکه چې مقرر وخت راتلونکے
دے. ۳۶ بادشاه به هغه څهٔ کوی څهٔ چې یې زړهٔ غواړی.
هغه به خپل ځان د هر معبود نه اوچت او لوئ ګنړی او د
خُدائ پاک خلاف به هم کُفر وائی څوک چې د ټولو معبودانو
خُدائ پاک دے. هغه به کامیاب شی تر هغه وخته چې د
غضب وخت پوره شوے نهٔ وی، ځکه څهٔ چې وئیلے شوی
دی هغه به پوره کیږی. ۳۷ هغه به د خپل پلار نیکهٔ معبودانو
له عزت نهٔ ورکوی او نهٔ هغه معبود له کوم چې د ښځو
خوښ دے، او نهٔ به د یو معبود عزت کوی، خو هغه به خپل
ځان د دې ټولو نه اوچت ګنړی. ۳۸ د دې په ځائ به هغه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قلعه ګانو د معبود عزت وکړی، د هغه معبود کوم چې د دهٔ
پلار نیکهٔ نهٔ پېژندلو. هغه به د هغهٔ عزت د سرو او سپینو زرو
او قیمتی کاڼو او قیمتی تُحفو ورکولو سره وکړی. ۳۹ هغه
به د پردی معبود په مدد سره په مضبوطو قلعه ګانو حمله
وکړی او د هغوئ به ډېر عزت کوی څوک چې د هغهٔ
حکومت منی. هغه به هغوئ په ډېرو خلقو حکمرانان مقرر
کړی او په اجر کښې به په هغوئ زمکه تقسیم کړی. ۴۰ په
آخر وخت کښې به د جنوب بادشاه هغهٔ سره په جنګ شی،
او د شمال بادشاه به د هغهٔ خلاف د جنګی ګاډو او آسونو
سوارو او ډېرو سمندری کشتو سره راوځی. هغه به په ډېرو
مُلکونو حمله وکړی او هغوئ به لکه د سېلاب غوندې ختم
کړی. ۴۱ هغه به په ښائسته مُلک حمله وکړی. ډېر مُلکونه
به شکست وخوری، خو ادوم، موآب او د عمون مشران به د
هغهٔ د لاس نه بچ شی. ۴۲ هغه به خپل حکومت په ډېرو
مُلکونو ومنی، او مِصر به ترې هم خلاص نهٔ شی. ۴۳ هغه
به د مِصر د سرو او سپینو خزانې او ټول دولت قبضه کړی،
او لیبیا او ایتهوپیا به هم هغهٔ ته تسلیم شی. ۴۴ خو بیا به د
مشرق او شمال افواګانې هغه پرېشانه کړی، او هغه به په
ډېره غصه کښې راوځی چې ډېر خلق تباه او نیست و نابود
کړی. ۴۵ هغه به شاهی خېمې د سمندر او د ښائسته مقدس
غرهٔ په مینځ کښې ولګوی. بیا هم به د هغهٔ خاتمه راشی، او
هیڅ څوک به د هغهٔ مدد نهٔ کوی.

## آخرت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ ۱ په هغه وخت کښې به ميکائيل، د فرښتو لوئ
سردار څوک چې ستا د قوم حفاظت کوی، راوچت شی.
هغه به داسې د مصيبت وخت وی چې داسې به د قومونو د
پېدايښت نه تر دې وخت پورې نۀ وی شوے. خو په هغه
وخت کښې به ستا د قوم نه هغوئ بچ شی، د چا نوم چې د
خُدائ پاک په کِتاب کښې ليکلے شوے وی. ۲ نو بيا به
هغه ګڼ خلق څوک چې په خاورو کښې پراتۀ دی راپاڅی،
څوک به د ابدی ژوند دپاره، او څوک د رسوائی او ابدی شرم
دپاره. ۳ څوک چې هوښيار دی د نمر د شغلو په شان به
ځليږی، او هغوئ څوک چې ډېرو خلقو ته د صداقت
لارښودنه کوی، هغوئ به لکه د ستورو په شان د تل دپاره
ځليږی. ۴ خو تۀ اے دانياله، دا کلام بند کړه او تر آخری
زمانې پورې پرې مهر ولګوه. ډېر خلق به اخوا ديخوا ګرځی
چې خپل عِلم کښې اضافه وکړی.“ ۵ بيا ما دانيال وکتل
چې زما په وړاندې دوه نور سړی ولاړ وُو، يو د سيند په دې
غاړه او بل پورې غاړه ولاړ وو. ۶ په هغوئ کښې يو د هغه
سړی نه تپوس وکړو چې د کتان جامې يې اغوستې وې، او
څوک چې د اوبو په غاړه ولاړ وو، ”نو دا حېرانېدونکې خبرې
به نور په څومره وخت کښې پوره شی؟“ ۷ د کتان د جامو
والا سړی څوک چې د اوبو دپاسه وو هغۀ خپل دواړه لاسونه
آسمان ته اوچت کړل او ما واورېدل چې هغۀ د ژوندی
خُدائ پاک په نوم قسم وخوړو او وې فرمائيل، ”دا به د درې
نيمو کالو پورې وی. کله چې په مقدسو خلقو ظلم ختم شی
نو بيا به دا هر څۀ سر ته ورسيږی.“ ۸ ما دا هر څۀ
واورېدل، خو پوهه پرې نۀ شوم. نو ما ترې تپوس وکړو،
”زما مالِکه، د دې ټولو خبرو به څۀ اَنجام وی؟“ ۹ نو هغۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جواب راکړو، "اے دانیاله، په خپله لار په آرام سره لاړ شه،
ځکه چې تر آخره وخته پورې به کلام بند شی او مهر به پرې
لګېدلے وی. ١٠ ډېر به پاک، بېداغه او صفا کړے شی،
خو بدعمله به بدعمله پاتې شی. یو بدعمله به پرې هم پوهه نۀ
شی، خو هغوئ ځوک چې هوښیار دی، هغوئ به پرې پوهه
شی. ١١ د کوم وخت نه چې د روزانه قربانۍ ختمې شوې
دی او د تباهۍ ناپاکه بُت اېښودے شوے دے، د هغې نه به
دولس سوه او نوی ورځې تېرې شی. ١٢ بختور دی هغوئ
ځوک چې دیارلس سوه او پینځۀ دېرش ورځو ختمېدو پورې
صبر وکړی. ١٣ ترڅو چې ستا تعلق دے په خپله لار تر
آخره لاړ شه. تۀ به وفات شې، نو تۀ به په آخری ورځو کښې
بیا راژوندے شې د دې دپاره چې خپل میراث درته مِلاو
شی."

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ٢٠١٩
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.